# الرسالة

Al-Risala



Ketabton.com

یوولسمه ګڼه – نومبر، ۲۰۲۵ ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرسالة

Al-Risala

یوولسمه کنه – نومبر، ٢٠٢٥ ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په دې ګڼه کې


| عنوان | مخ |
|---|---|
| اسلام – یو ستر جد و جهد | ۶ |
| د انسان رښتونی مقام | ۲۳ |
| د تاریخ انقلابونه | ۲۴ |
| له اختلاف نه ځان وژغورئ | ۳۰ |
| دا تمثیل دی، نه واقعیت | ۳۵ |
| د ایمان تراویا ډېرې څانګې دي | ۳۹ |
| تعصب سړی ترکومه وړي | ۴۵ |
| بیګ بینګ | ۴۹ |
| یوه ټوکه | ۵۱ |


او نور ډېر څه....

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلام تګلاره واقعیت‌بینانه تګلاره ده

په قرآن کریم کې ارشاد دی: «**أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ**.» (الحج: ۳۹) ژباړه: هغو خلکو ته اجازه ورکړه شوه چې جګړه ورسره کېږي، ځکه چې دوی سره ظلم شوی او یقیناً الله یې په مرسته کولو وسمن دی.

د مکې مشرکینو به مسلمانان ډېر زیات کړول. مسلمانان به چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل، نو د چا به سر مات و، څوک به زخمي و، چا به ټپونه لیدلي وو. هغوی به نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته شکایتونه کول. خو د ده مبارک ځواب به یوازې دومره و، «صبر وکړئ، ماته تر اوسه پورې د جګړې امر نه دی شوی؛ **اصبروا فاني لم اومر بالقتال، تفسیر النسفي**» په همدې حال کې دیارلس کاله تېر شول او د هجرت په دوهم کال په مدینه کې د قتال لارښوونې نازلې شوې. عبدالرزاق، عبد بن حمید، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، بزار، ابن جریر، ابن المنذر، ابن ابي حاتم، ابن حبان، حاکم، ابن مردویه او بیهقي یې په دلایلو کې د عبدالله بن عباس له خولې ویلي دي، چې په څه باندې اویا آیتونو کې د قتال له ممانعت وروسته دا لومړنی آیت دی، چې په قرآن کریم کې نازل شو او د قتال اجازه په کې وشوه (**هی اول آیة أذن فیها بالقتال بعد ما نهی عنه في نیف و سبعین آیة**).

دلته سوال دا دی، چې په مسلمانانو باندې خو ظلم په مکې دور کې په تر ټولو ناوړه حالت کې روان و او الله تعالی بې له شکه په هغه وخت کې هم د مسلمانانو په نصرت باندې په بشپړه توګه وسمن و. نو بیا په مکه کې د «قتال» اجازه ولې ور نه کړل شوه؟ د دې وجه دا ده، چې د خدای د قانون له مخې، مسلمانان تر دې دمه دومره ځواکمن شوي نه وو، چې د دوی کوم ګام دې پرېکنده پایله ورکړي. خو له هجرت وروسته چې کله د مسلمانانو ځواک دې معیار ته هسک شو، چې د دوی یو اقدام د **یوم الفرقان** (انفال: ۴۱) پایله وزېږولی شي، نو هماغه وخت د جګړې اجازه ورکړل شوه.

په تېره یوه نیمه پېړۍ کې چې د اسلام بیرغ جګوونکي په څه ډول له خپلو خیالي دښمنانو سره ښکر په ښکر دي او زیان یې هم هر ځل د اسلام علمبرداران ګالي، هغه له دې قرآني اصل څخه صریحه سرغړونه ده. حقیقت دا دی، چې د دوی ټول اقدامات د ناپوهۍ اقدامات وو، که څه هم په ناسمه توګه یې دې اقداماتو ته د «اسلامي جهاد» سپېڅلی نوم ورکړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلام – یو ستر جدوجهد



قرآن کريم د کايناتو د واکمن فرمان دی، او همدا قرآن دا پرېکړه کوي، چې عزت چا لره دی او ذلت د چا لپاره دی. بريالی څوک دی، او ناکامه څوک دی؟ له دنيوي پلوه د کاميابي د کلمې معنا دا وي، چې په يوه ټولنه کې بنده له شته فرصتونو استفاده وکړه او لوړو مقامونو ته ورسېده. يو شخص چې لوی تجار، د لوړ منصب يا سترو مرتبو خاوند وي، نو بريالی انسان ورته ويل کېږي. د دې مطلب دا دی، چې په چاپېريال کې چې د تجارت د ودې لپاره کوم ممکنه صورتونه وو، لوړو منصبونو ته د رسېدو لپاره چې کوم معيارونه ټاکل شوي وو او د سترو مرتبو ترلاسي ته چې کومې لارې تللې وې، هغه سړی په دې ټولو برلاسی شو او د خپلو هلو ځلو په نتيجه کې يې هغه لوړ مقام مومنده چې د وخت د قانون له مخې د ده لپاره شونی و. د کاميابي معنا دا نه ده، چې د اله دين څراغ لاسته درشي، بلکې کاميابي د دې پېښې نوم دی، چې يوه شخص خپل استعداد او د کار فرصتونه په هغو لارو کې په کار واچول، چې د ده لپاره پرانيستې وې او بالاخره د خپلو هڅو په نتيجه کې هغه منزل ته ورسېده، چې د دغو لارو مسافر بالاخره ورته رسېږي. کاميابي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

چانس او نېکمرغي په پایله کې پېښېدونکې تصادفي پېښه نه ده، بلکې د سمو هلو ځلو فطري پایله ده، همدا خبره یوه مفکر په دې ټکو کې کړې دي:

**«انسان دې تکړه وي او بریالی دې نه وي، دا دروغ ده.»**

همدا حال په راتلونکي ژوند کې د کامیابي هم دی، چې د انسان حقیقي منزل دی، هلته چې ټول ړومبني او روستني انسانان به د خپل رب په حضور کې راټول کړای شي. په دې ورځ بـه عـزت او کامیابي د هغـو خلکـو لپاره وي، چـې د خدای رضا یې لاسته راوړې وي او ذلت او نامرادي به د هغه چا لپاره وي، چې د خپل رب د رضا پـه تـرلاسي کـې پـاتې راغلی وي. د لومړۍ ډلې لپاره تلپاتې خوندونه دي او د بلې ډلې لپاره تلپاتې کړاوونه. هغه شخص چـې پـه قـرآن کـریم ایمان راوړي او اسلام ورخپل کړي، هغه ګواکې د لومړۍ پایلې هیلمن دی او له دوهمې پایلې نه خلاصون غواړي. خو د دې بلند مقام ترلاسی دومره اسانه خبره نه ده. دا یو هسک غر دی، چې پر هغه باندې اوښتو ته اوږده هڅه پکـار ده، له هغه وروسته یو انسان دې هسکې رسېږي. د خدای انعام په لاره کې د پراته شي غوندې مازې د تصادف لـه مخې چاته لاسته نه ورځي، بلکې د دنیوي کامیابي په څېر د زبردست جدوجهد طبیعي پایله ده، چې د الله تعالی له قانون سره سم یوه شخص ته حاصلېږي. په اخرت کې د انسان کامیابي په اصل کې له یوې اوږدې ازموینې نه د تېربدو دوهم نوم دی. الله تعالی انسان پیدا کړ او په یوه داسې جهان کې یې مېشت کړ، چې له راز، راز باطلو نظریاتو او فاسدو تمایلاتو ډک دی، چې انسان به خپل زړه او ذهن ورنه سپېڅلی ساتي. بې شمېره غلطې او ناروا طریقې دي، چې ځان بـه ورنـه ژغوري. ګڼ شمېر شیطاني او طاغوتي ځواکونه دي، چې له حق لارې نه د انسان اړولو ته یې کار ویلی دی، انسان بـه له همدې ځواکونو سره د مبارزې په ترڅ کې د خپل سفر لاره لنډوي. لنډه دا چې له خنډونو او ستونزو ډکه لاره ده، چې انسان به یې طی کوي او خپل رب ته به ځان رسوي. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی:

«**حُجِبتِ النَّارُ بِالشَّهَواتِ، وحُجِبتْ الْجَنَّةُ بَالمكَارِهِ**» (**متفقٌ عَلَيهِ**) جهـنم لـه خونـدونو او لـذتونو نـه ډک دی او جنـت د کړاوونو کور دی.

که د اسلام حقیقت په یوه کلمه کې بیانوو، نو له «قرباني» نه ډېره مناسبه کلمه بله نه شي ورته پیدا کېدی. اسلام په اصل کې یو زبردست جدوجهد دی، د قرباني یو دوامداره عمل دی، چې له ایمان راوړو وروسته د بنـده تـر مرګـه پـورې دوام کوي. اولنۍ قرباني انسان هغه مهال ورکوي، چې کلـه د خپلـې خوښـې لـه فکرونو او قلبـي میلانونـو سره خـدای پامانی کوي او حق دین ته غېږه ورکوي. تر هغه وروسته بله قرباني هغه ده، چې په عملي دنیا کـې ورکـول کېـږي. پـه اخلاق او کړو وړو، په ژونـد او تمـدن کـې لـه هغـو تګـلارو لاس اخلـي، چـې خـدای تـه ناخوښـې دي او هغـه طریقـې ورخپلوي، چې خدای ته ګرانې دي. له دې دواړو پړاوونو چې تېر شي، نو د امتحان هغه وروستي ډګر ته ورسېږي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه یوازې حرام شیان بلکې د ژوند روا چارې هم باید پرېږدي. تر دې چې د خپل ځان قرباني ته د لبیک ویلو شېبه هم پکې راورسېږي. دغه ځاني قرباني د امتحاني زنځیر وروستۍ کړۍ او په اخري درجه کې د هغه عبدیت د تړون په ثبوت رسول دي، چې له ایمان راوړلو سره سم بنده له خپل خدای سره تړلی و.

له دې درې پړاوونو چې بنده تېر شي، نو خپل رب ته رسېږي او د هغه د رضا مستحق ګرځي، دغه درې پړاوونه په قرآن کریم کې د – ایمان، هجرت او جهاد – په کلمو تعبیر شوي دي. الله تعالی فرمایي:

«الَّذِينَ آمَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَاهَدُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ اللّهِ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ» (توبه: ۲۰)

هغوی چې ایمان راوړی، هجرت یې کړی او په مالو او ځانو یې د الله په لاره کې جهاد کړی، د الله په وړاندې خو د هماغو درجه لوړه ده او همدوی بریالي دي.

په دې آیت کې له ایمان نه مراد هغو حقایقو ته غاړه ایښودل دي، چې په قرآن کریم کې یې ذکر راغلی دی، له هجرت نه مراد همدغه اعتراف او له هر هغه څه څخه لاس اخیستل دي، چې د ایمان له تقاضاوو سره په ټکر وي، او جهاد د هغه کوشش او جدوجهد نوم دی، چې تر وروستي حده پورې د ایمان او مهاجرت د ژوند د بقا لپاره یې یو بنده په دې دنیا کې سرته رسوي. په دې معنا چې دغه ایمان، هجرت او جهاد له یو بل نه جلا شیان نه دي، بلکې د یوه سفر ړومبني او روستني منزلونه دي. دا درې واړه د یوه کیفیت مختلف تکاملي پړاوونه دي، چې یوازې له یو بله د بېلوالي لپاره جدا، جدا عنوان ورکول شوی دی. بله دا چې هجرت او جهاد هم کوم ټاکلي حالتونه یا بڼې نه لري.

د ایمان حقیقت، په بېلابېلو حالاتو کې په راز، راز شکل څرګندېږي، د یوه لپاره هجرت د وطن د پرېښودو په معنا وي، د بل لپاره یوازې دا وي، چې د خپل باطن له ناوړه میلانونو لاس واخلي. د یوه جهاد هغه مجبوروي، چې له بیروني ځواکونو سره سر وجنګوي. د بل لپاره جهاد یوازې دا وي، چې له خپلو دروني خواهشاتو سره مبارزه وکړي او ویې ځپي.

## ایمان

لومړی تاسو ایمان در واخلئ. ایمان په هغه ستر ازمایښتي رسالت کې د ګډون پرېکړه ده، چې ابتدا یې د ژبې په اقرار سره کېږي او انتها یې دا ده چې په همدې حالت کې انسان خپل ژوند له لاسه ورکړي. دا هغه تړون دی، چې بنده یې له خپل خدای سره په دې خبره تړي، چې زه به ټول ژوند خدای ته وفادار یم. ایمان د هغه کیفیت نوم دی، چې د حقیقت له ژور او اخلاصمند شعور نه پیدا کېږي. چې کله بنده د دې حیرانوونکي کاینات تر شا یو لامحدود ځواک مشاهده کړي، چې کله د خدای رسول ته غاړه کېږدي او په ټولو فیصلو یې راضي شي، چې کله یې له زړه چیغه ووځي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د تخلیق دغه عظیم پلان عبث نه دی، بلکې یوه داسې ورځ راتلونکې ده، چې د ماضي او مستقبل ټول انسانان به راټول کړای شي او حساب به ورنه واخیستل شي، د همدې کیفیت ټولګه موږ د ایمان په کلمې سره تعبیروو.

د ایمان اصلي روح اعتماد کول دي. دا اعتماد د یوه داسې ذات په اړه وي، چې موږ یې په خپلو سترګو نه شو لیدلی. په دې ډول په ایمان کې د یقین مفهوم پیدا کېږي. دغه راز خدای له خپلو ټولو صفاتو سره منل دا لازموي، چې د هغه له قهر او غضب نه ډار او وېره وشي، او د هغه له عذاب نه د خلاصون فکر وشي، چې له دې امله له ایمان سره تقوا او وېره هم اړینه شوه. اوس که د قرآن کریم له مخې د ایمان د تصور د تشریح لپاره درې کلمې – یقین، اعتماد او وېره – سره یو ځای کړو، نو د ایمان روح ته بیخي ورنیږدې کېږو. ایمان د خپل اصل حقیقت له مخې د خدای او د هغه په رسول باندې د هغه کُلي اعتماد نوم دی، چې له کامل یقین څخه سر راهسکوي، او له خدای نه د هغې وېرې نوم دی، چې انسان دې ته مجبوروي، چې د پولیس او پوځ له تسلط پرته له خپله ځانه د خدای اطاعت په ځان باندې لازم وګرځوي.

دا یقین چې د ایمان لومړنی جز دی، له خارجه وارد شوی کوم شی نه دی، بلکې د هغه حقیقت ژوندی شعور دی، چې پخپله د انسان په فطرت کې اغږلی دی. انسان په کایناتو غور کوي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاربنوونې ګوري او له خپل درونه راپورته کېدونکي اواز ته غوږ نیږدې کوي، نو دا درې واړه شیان ورته بالکل یو معلومېږي. دی داسې محسوسوي، چې ګواکې هماغه یو پیغام دی، چې په یوه وخت کې له درې مختلفو ځایونو څخه نشرېږي. د خدای رسول ص چې د کوم حقیقت خبرتیا راکوي، ټول کاینات په بشپړه معنا له هغه سره هم آهنګه معلومېږي او د انسان دروني اواز له خپل ټول وجود سره د هغه تصدیق کوي. دی چې په الهي کتاب کې کوم څه لولي، په ځمکه او اسمانونو کې هماغه څه ګوري. او څه چې لولي او ګوري، د ده فطرت دا هر څه داسې قبلوي لکه په یوه قالب کې چې بالکل د هماغه سایز یو شی کېښودل شي. خو د یقین دغه کیفیت په خپل سر نه حاصلېږي. هغسې چې د فطرت هره وړتیا هغه وخت په عمل راځي، چې د روزنې او نمو له لارې وده ورکول شي، د کاینات هر راز هم هغه وخت د انسان لپاره له خپله مخه پړونی اړوي، چې د هغه په لټون کې یې خپل ځان ورک کړی وي. او د یوه کتاب مضامین هماغه وخت په بنده واضح کېږي او هغه ته ګټه رسوي، چې کله یې ژور مطالعه کړې او مطالب یې ورنه اخذ کړای شي. په همدې ډول یقین هم هغه وخت یوه بنده ته حاصلېږي، چې کله خپل ټول ارادي ځواک په کار واچوي. سره له دې چې دا یقین خو د کایناتو تر ټولو واضح حقیقت دی، خو د دې دنیا لپاره د الله تعالی قانون همدا دی، چې بنده ته هغه څه ورکول کېږي، چې هلې ځلې یې پسې کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایمان دوهم جز اعتماد دی. د خپل ځان او جهان مطالعه که یوه لوري ته انسان ته دا وایي، چې یو داسې ستر خالق او کارساز دی، چې د دې کارخانې د ټولو پېښو حقیقي سبب دی. نو د دې په خوا کې او په همدې شېبه کې بنده ته د دوو نورو خبرو شدید احساس هم ورکوي. یو د خپلې خورا ډېرې بې وسۍ او بل د خدای د ناپایه احسانونو. بنده ګوري، چې زه د خپل ځان لپاره بې شمېره شیانو ته محتاج یم. خو له هغو څخه یو شی هم پخپله نه شم جوړولی. دی د یوه کمزوري ماشوم په بڼه دنیا ته راځي او د بوډاتوب له ناتوانیو سره له منځه ځي. دی په یوه داسې ځمکه ولاړ دی، چې په فضا کې لامبو وهي او که یې په توازن کې معمولي غوندې ورانی پېښ شو، نو د ده د تباه کولو لپاره بس دی. دی خپل ځان په یوه داسې ستر کاینات کې بند مومي، چې هېڅ اختیار ورباندې نه لري. په دې حالاتو کې ده ته خپل وجود بالکل بې وسی او ناڅیزه په نظر ورځي. بل لوري ته دی ګوري، چې هر هغه څه چې د ده ورته اړتیا وه، د ده لپاره برابر کړای شوي دي. ده ته یو داسې بدن ورکول شوی دی، چې ګوري، اوري، غږېږي، فکر کوي او د دې بدن د ځواکونو د فعاله ساتلو لپاره د یوه خودکار ماشین په څېر پرلپسې کار کوي، دی ګوري چې د ځمکې او اسمانونو ټول ځواکونه په بشپړه همغږۍ کې د ده په خدمت کې لګیا دي. ده ته خپل وجود د مجسم احسان په توګه په نظر ورځي. په ده کې د شکر بې پناه جذبه راپورته کېږي او د احسان‌مندي له جذبې نه سرشاره کېږي. دا پېښه دی مجبوروي، چې هغه ذات خپل هر څه وګڼي، چې د ده لپاره یې دا ټول انتظام کړی دی. لومړنی شی ده ته د کاملې بې‌چاره‌ګۍ یقین وربښي او دی په ډېر شدت سره دا محسوسوي، چې تر ده یو لوړ ځواک باید موجود وي، چې د ده لاسنیوی وکړي. او دوهم احساس د ده د همدې غوښتنې د ځواب په حیث مخې ته راځي. هغه مطالعه چې ده ته په خپل ځان کې د خلا احساس ورکوي، هماغه مطالعه په ورته وخت کې د ده خلا د ډکولو چاره هم کوي.

د ایمان دریم جز «وېره» ده. دا وېره د ایمان له ابتدايي دوو اجزاوو – یقین او اعتماد – نه جدا کوم څه نه دی، بلکې د هغو لازمي پایله او تکمیل یې دی. یوه لوري ته دی خدای ته ګوري، چې د عدل او حکمت خزانه ده. بل لوري ته چې کایناتو ته ګوري، نو له زړه نه یې چیغه وهي، چې دومره ستر تخلیقي پلان عبث نه شي کېدی. بیا چې کله دی په ځمکه باندې مېشت انسانان ګوري، چې ظالمان هم په کې شته او مظلومان هم. ښه هم لري او بد هم، نو دی په دې باوري شي، چې د حساب د ورځې راتلل حتمي دي، چې په هغه ورځ به ښتینو ته د ښتینولۍ او بدانو ته د بدۍ بدله ورکول کېږي. په رب العالمین باندې اعتماد د ده لپاره له رب العالمین څخه د وېرې بنیاد ګرځي.

د خدای دغه وېره هغسې څه نه ده، چې د یوه وېروونکي شي په لیدو د انسان په زړه کې پیدا کېږي. حقیقت دا دی، چې دا یوه داسې جذبه ده، چې په هېڅ کلمه کې یې په سمه معنا تعبیر نه شي کېدی. دا وېره د انتهايي امید او انتهايي اندېښنې یو داسې ګډوډ کیفیت دی، چې بنده په کې هېڅ کله دا نه شي ویلی، چې په دواړو کې کوم یوه ته لوړه درجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړي. دا له هر څه کولو وروسته د ځان د هېڅ ګټلو هغه اعلی احساس دی، چې بنده ته یوازې خپل مسؤلیتونه په زړه وي او خپل حقونه ورنه بالکل هېر وي. دا د مینې او وېرې یو داسې مقام دی، چې له چا نه چې بنده وېرېږي، د هماغه په خوا ورځغلي او د چا له لوري چې د محرومه کېدو خطر محسوسوي، له هماغه نه د ترلاسي امید هم لري. **ایمان داسې اضطراب دی، چې سرتر پایه اطمینان دی او داسې اطمینان دی، چې سرتر پایه اضطراب دی.**

دا د ایمان درې څرګند اړخونه دي. ایمان په اصل کې د هغه کیفیت نوم دی، چې د خدای له وېرې، په هغه باندې له بشپړ اعتماد او د هغه په هکله له کامل یقین څخه پیدا کېږي. هغه شخص چې په الله تعالی، د هغه په رسولانو او د هغه په احکاماتو ایمان راوړي، خپله ټوله هستي او نېستي هغه ته وسپاري، د هغه په ټولو پرېکړو راضي شي، هغه مؤمن دی. ایمان د عقل لپاره هدایت او رڼا ده او د زړه لپاره طهارت او پاکوالی. همدا ده، چې ایمان عقل او اراده دواړه یو ځای اغېزمنوي او له فکر او عمل هر څه نه راچاپېر وي. د قرآن کریم په ژبه کې مؤمن هغه شخص دی، چې د خدای خالص او وفادار بنده وي او د هغه په احکاماتو باندې د یقین او اعتماد له ټولو کیفیتونو سره د اطاعت تړون وکړي.

## هجرت

اوس هجرت در واخلئ. د هجرت معنا پرېښودل، تعلق پرې‌کول دي. عموما هجرت د وطن له پرېښودو سره هم معنا انګېرل کېږي. بې له شکه چې د هجرت کلمه په ځانګړې توګه د همدغې پېښې لپاره ویل کېږي. خو په یوه پېښه باندې د هغې له شالید او کانټکسټ نه پرته نه شو پوهېدی. حقیقت دا دی، چې د مؤمن په ژوند کې چې د وطن د پرېښودو پېښه راځي، نو دا کومه تصادفي پېښه نه وي، بلکې د یوه اوږد تاریخ اختتام وي. هجرت یو داسې عمل دی، چې د مؤمن په ژوند کې له لومړۍ ورځې څخه پیلېږي او بلاخره د خپلو ذوقونو او علایقو تر پرېښودو پورې رسېږي.

د الله تعالی په فضل سره په یوه بنده حق روښانه کېږي او دی راپورته کېږي، نور خلک هم دې حق ته رابولي. دی د زمانې په خلاف د یوه نوي اواز د علم‌بردار په حیث دا اعلان کوي، چې ما د ماحول له بندګي نه لاس اخیستی دی او د زمانې په خلاف د ځان لپاره د یو بلې لارې د جوړولو پرېکړه مې کړې ده، دا د هجرت ابتدا ده، چې کله یو بنده ناروا ژوند ته شا اړوي او ځان سره د روا ژوند د ورخپلولو هوډ کوي. له دې وروسته یو دوامداره جدوجهد پیلېږي، چې ګڼ‌شمېر زاړه شیان باید پرېښودل شي او بې شمېره نوي شیان باید خپل کړای شي. له څومره خپلو خلکو سره باید بنده اړیکې پرې کړي او له څومره پردو خلکو سره باید د اړیکو تارونه وغځوي او له درونه تر بیرونه د بې شمېره شیانو پرېښودل او د هغو په ځای د نورو ناخوښو شیان قبلول ورباندې لازم کېږي. په دې ډول د ایمان له منلو سره یو ځای د مؤمن په ژوند کې هجرت، یا د یوه نوي ژوندطرز لپاره د بې شمېره زړو شیانو د پرېښودو پانګه هم پرانیستل شي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هجرت چې ده پخپله کړی دی، نور خلک هم دې هجرت ته رابولي. چې په پایله کې یې ځینې خلک ملگرتیا کوي او ځینې یې مخالفت ته لاس وړي. په دې سره په ماحول کې دوه مقابلې ډلې راهسکې شي، چې یوه ډله په هغه شي پورې نښتې وي، چې دا بله ډله یې له ځانه ایسته کول غواړي.

دا اختلاف یوازې له دې اړخه نه وي، چې یوه ډله په بله ډله تنقید کوي او د هغې رویې ته د غلط په سترگه گوري، بلکې خبره تر دې ډېره وړاندې ځي او د دواړو ترمنځ عملي کشمکش شروع کېږي. انساني ټولنه یو وحدت دی، چې هېڅ شخص له نورو نه جدا د ځان لپاره کومه لاره نه شي جوړولی. انسان د خپل فطرت له مخې ټولنیز مخلوق دی. د ده اړتیاوې له نورو سره په راشه درشه کې پوره کېږي او دی مجبور دی، چې د نورو له خوا د شیندل شویو نظریاتو په منځ کې ژوند وکړي. هېڅ څوک د خپلې خوښې له نظریې سره سم ژوند نه شي تېرولی، تر هغو چې د ټولنې په ټولو برخو کې هغه نظریه ونه منل شي. له دې بغیر، نه دی په مکتب کې د خپلې خوښې زدکړې کولی شي او نه په بازار کې د خپلې خوښې سره سم پېر او پلور کولی شي. نه په محکمو کې د خپلو اصولو له مخې پرېکړې کولی شي، حتی دا هم نه شي کولی، چې هغه څه چې دی یې حلال گڼي، هغه وخوري او هغه څه چې د ده په نزد حرام دي، هغه له خپلې مرۍ نه تېربدو ته پرې نه ږدي. نو ځکه چې کله یو څوک د زماني خلاف کوم مسلک یا لاره غوره کوي، نو دا پرېکړه یې حتما له هغو خلکو سره د ټکر سبب گرځي، د کومو خلکو د نظام په سیوري کې چې دی ژوند کوي. د بشري ټولنې مثال د جال غوندې دی او ټول وگړي یې د حلقو غوندې له یو بل سره تړلي دي. له هغو نه د یوې کړۍ د جدا کولو هڅه ټول جال ویجاړولی شي. په دې ډول یو دوامداره اختلاف راپیل شي، چې ورځ په ورځ پسې تودېږي. گام په گام له یو بل سره د مزاحمت پېښې رامنځته کېږي او واکمنه طبقه د اهلِ حق د ځورولو او د ژوند له سرچینو څخه د هغوی د محرومه کولو ټول تدبیرونه په کار اچوي. له دواړو خواوو شدت زور پسې اخلي. په یوه خوا کې د ظلمونو شدت، خو په بله خوا کې دا شدت چې هر څه په ځان تېروو، خو له خپل هوډ نه هېڅ کله نه تېرېږو. هغه شی چې غلط دی او پرې اېښی مو دی، هغه ته هېڅ کله بېرته نه ورستنېږو. دا کشمکش بلاخره یوه داسې ټکي ته رسېږي، چې ټولنه د حق‌پلوه ډلې له منلو څخه رټ انکار کوي او دا پرېکړه کوي، چې د حق د خاوندانو وجود باید له یوې مخې له منځه یووړل شي. په دې وخت کې د حق خاوندان دا پرېکړه کوي، چې له دې سیمې سره مخه ښه وکړي او د ځمکې کومې بلې ټوټې ته ځانونه وباسي. لومړی هغوی ناسم فکرونه او ناروا چارې پرې ایښې وې. اوس دوی خپل کور، خپلې شتمنی، خپل عزیزان، بس خو د ژوند ټوله متاع خپل شاته پرېږدي، او دا د هجرت وروستۍ او اخري بڼه دی.

د دې هجرت مطلب دا نه دی، چې بنده یو ځای پرېښوده او بلې سیمې ته یې کډه وکړه. بلکې د ناحق له پرېښودو وروسته د حق په لور قدم پورته کول دي، د شیطان او طاغوت له بند او بندیزونو څخه د خدای په لور ځغاستل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ده، چې په قرآن او حدیثو کې د مؤمنانو هجرت ته «**هجرت الی الله**» ویل شوي دي. یانې د خدای په لوري هجرت. داسې ولې ده؟ ښکاره ده، چې دا خلک خو له ځمکې نه اسمان ته سفر نه کوي، بلکې په همدې دنیا کې ژوند کوي. د دې خبرې وجه دا ده، چې د پرېښودو دا چاره د خدای‌پرستي په پایله کې ترسره کېږي. د خدای په لور د هجرت کولو مطلب دا دی، چې د خدای په لاره کې چې هر مشکل راځي او هر شی چې خدای ته د نیږدې کېدو پر وړاندې خنډ ګرځي، هغو ته شا واړول شي. دا د خدای‌پرسته ژوند بنیاد دی. تر څو چې بنده دې هجرت ته اماده نه وي، هغه د ایمان تقاضاوې نه شي پوره کولی. خپل ژوند هماغه څوک په بریالیتوب سره په اسلامي ژوند بدلولی شي، چې دې قرباني ته چمتووالی ولري. چې کله وګوري، چې په ده کې داسې فکرونو او میلانونو ریښې کړې دي، چې د خدای له خوښې سره په ټکر کې دي، نو له خپلو جرړو سره یې راوشکوي. که په ناسمو کارونو کې مبتلا وي، نو د تل لپاره ځنې لاس په سر شي. د یو چا اړیکه د دین په لاره کې خنډ ګرځي، نو داسې اړیکې ته د خدای پامانۍ لاس وښوروي. یو داسې ژوندطرز دی، چې بنده ته د دې فرصت نه ورکوي، چې د دین په یوه مسئله کې خپله برخه واچوي، نو دا ژوندطرز په ځمکه کې خښ کړي. د دین د غوښتنو په پوره کولو کې د اقتصادي خپلواکۍ خطر مخې ته ولاړ وي، نو هغه خطر هم په ځان ومني. خپل ځان چې د دین خدمت ته سپاري، نو د ځان او اولادونو راتلونکی تیاره په نظر ورځي، نو هېڅ پروا یې ونه کړي او ګرندی ورباندې ورشي. بس چې هر ځل بنده په داسې حالت کې مبتلا وي، چې یوه خوا یې خدای بولي او بلې خواته یې کومه بله تقاضا ځان ته کشوي، نو دا نورې تقاضاوې پرېښودل او خدای ته ور مخکې کېدل – د همدې نوم **هجرت الی الله** دی.

دا هجرت ډېر زیات پړاوونه او بې شمېره ډولونه لري، خو د هغه په حقیقت باندې د پوهېدو لپاره یې موږ په دوو لویو سرلیکونو کې وېشلی شو: یو ناروا او حرام شیان پرېښودل او بل هغه شیان پرېښودل، چې په خپل ځان کې د دې وړ نه دي، چې پرېښودل شي. خو د دین په لاره کې داسې پړاوونه هم راځي، چې مؤمن له دغه ډول شیانو سره هم وخت په وخت ښکېلېږي.

د هجرت په اولني قسم کې هغه افکار او اعمال راځي، چې الله تعالی حرام او د پرېښودو وړ ګرځولي دي. هر انسان په یوه ماحول کې دنیا ته راځي، ماحول نوم دی په یوه خاص سټرکچر کې د تاریخ، رواجونو، عادتونو او کړو وړو. ماحول د افکارو او اعمالو یو نظام دی، چې د ژوند په ټولو ګوټونو یې سیوری غوړېدلی وي. هغسې چې د ځمکې شاوخوا ته د هوا یو نامریي غلاف راتاو دی، چې په موږ ټولو راخور دی. همداسې هر بنده هم د خپل وخت په ماحول کې په بشپړه توګه نغښتی وي. په همدې ماحول کې دی وده او نمو کوي. د ماحول افکار او تصورات د ده یوه، یوه رګ ته لاره کوي. او زیاتره وختونه د هغو په خلاف فکر کول د ده لپاره ستونزمن وګرځي. کله چې انسان ته حق څرګند شي، نو تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ړومبی ورته همدا د پلرونو او نیکونو د دین د پرېښودو مرحله مخې تـه راځـي. دې وخـت کـې بایـد دی هغـه ټـول ناسـم تصورات راوګروي او له خپل ځانه یې لرې کړي، چې د ماحول په اغېز کې یې غاړه ورته ایښې وه. بیا په هر انسان کې یو نفس وي، دا نفس په لذتونو پسې ګرځي. د نفس لپاره په یوه شي کې د خوښې یا ناخوښې معیار دا نه دی، چې هغه سم دی یا ناسم، ښه دی یا بد. بلکې د نفس لپاره د خوښې معیار دا دی، چې هغه شی ښه وربانديې لګېږي او لـه هغـه شي نه ده ته ګټه رسېږي. انسان د خپل جهالت په ژوند کې ګڼې داسې لېوالتیـاوې او بوختیـاوې پـه ځـان کـې راټـولې کړې وي، چې سره له دې چې غلطې وي، خو د ده نفس ته د خوښې وړ وي. دغه راز ډېـری هغـه مسؤلیتونه یـې هېـر کړي وي او شا یې ورته اړولې وي، چې سره له دې چې له اخلاقي پلوه ضروري وي، خـو د ده نفس یـې نـه خوښـوي. همدا ده، چې کله یو شخص ایمان راوړي، نو باید په خپل ژونـد کـې د مـاتونې او غورځـونې یـو دومـداره عمـل پـه لاره واچوي او ډېری هغه شیان چې په تېر ژوند کې ورته ګران وو، له هغو ټولو نـه د تـل لپـاره لاس واخلـي، او ډېـری هغـه شیان چې د ده ورنه کرکه وه او هېڅ دلچسپي یې ورسره نه وه، هغه په خپل ژوند کې شـامل کـړي. دغـه راز لـه ایـمان راوړلو وروسته له ناسمو جذباتو، ناسمو اړیکو او ناسمو اعمالو سره د بېلتون یو تلپاتې رسالت پیلېږي. د ژوند په ټولو چارو کې له ناروا طریقو څخه د ځان ساتنې یو دوامداره بهیر شروع کېږي، چې د مرګ تر وروستۍ شېبې پـورې دوام مـومي. دا د هجرت اولنی او ابتدایي قسم دی، چې د ماضي له ناسمو عادتونو او کړو وړو څخه د ځان د پاکولو او په اینده کې د دغه راز شیانو د نه قبلولو په صورت کې ځان ښکاروي. د دې هجرت یادونه د قرآن کریم په مدثر سورت کې راغلـې ده، چې د نبوت د بالکل ابتدایي زمانې سورت دی. فرمایي:

«**وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ**.» (**مدثر: ۵**) او چټلۍ (یانې د فکر او عمل لـه ټولـو بـدیو) نـه لـرې اوسه.

همدا خبره نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې ټکو کې فرمایلې ده:

«**الْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ**» مهاجر هغه دی، چې لـه هغـو شیانو لـرې شي، چې الله تعالی منع کړي دي.

دا د **هجرت الی الله** یو اړخ دی، چې انسان په کې باید له ټولو ناروا شیانو لاس واخلي. د خدای له خوښې سره سم ژوند لپاره له هغو شیانو باید ځان پاک کړي، چې د خدای له خوښـې سره خـلاف دي. د دې بـل اړخ هغـه دی، چـې انسان مجبوربږي، چې خپلې روا ګټې هم د خدای په لاره کې قرباني کړي. د دې وجه دا ده، چې اسلام بنده تـه دومـره سـتر کار ور له غاړې کوي، چې له هغه وروسته د ده لپاره د بل څه د کولو هېڅ فرصت نه پاتې کېږي. د ده ټول توجهـات لـه خپل ځان نه اوړي او مخه یې سراسر د اسلام لوري ته ګرځي. ځکه خو ویل شوي دي، چې په دنیا کـې د مـؤمن لپـاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې مسؤلیتونه دي، دې دنیا کې مؤمن هېڅ حق نه لري، او هر حق یې چې دی، هغه لـه خـدای سره دی او همالتـه به یې ترلاسه کوي.

د اسلام د قبلولو مطلب یوازې دا نه دی، چې بس انسان یې په خپل ژوند کې غوره کړي. بلکې د دې په خوا کې دا هم اړینه ده، چې نورو ته هم د اسلام دعوت ورکړي او په ټوله ټولنه کې د اسلام د ټینګولو لپاره هلـې ځلـې وکـړي. د دیـن دغه غبرګه تقاضا زموږ مسؤلیت صرف دوه چنده کوي نه، بلکې د انتها تر حده یې پېچلې کوي هم. سره له دې چې پـه انفرادي ژوند کې هم د امکان تر حده په دین باندې عمل کول دومره اسان کار نه دی. له فتنو ډکې دنیا کې باید خپـل اختیار او اراده یوازې په سم لوري کې وکارول شي. دا له ټول اختیار سره سره په خپله رضا د ځان پابنـد کـول دي او د مرګ تر وروستۍ شېبې پورې همداسې پابند پاتې کېدل دي. خو د دین دوهمه تضاضا – یانې نورو بندګانو تـه د خـدای پیغام رسول او د خدای دین په عمل کې د ځمکې په مخ د خپرولو لپاره هلې ځلې کول – دا دومره درنـه تقاضـا ده، چې یوازې تصور یې هم د دې لپاره بس دی، چې د انسان پوستکی وربېردوي. دا یو داسې ستر او ځانربړوونکـی کـار دی، چې د بنده ټول ځواک او هر څه غواړي. د حق دعوت او د دین له اشاعت علاوه چې په کوم کار کې دی ځـومره وخـت او انرژي مصرفوي، د دې معنا دا ده، چې دی په همدې اندازه د خپلې اصلي دندې په ترسره کولو ناغېړي کوي.

انسان چې کله په دې ډول دین ته غاړه ږدي، نو سمدستي احساس ورته دربېږي، چې په دې کار کې د خپلـې دنـدې د سرته رسولو معنا دا ده، چې نور هېڅ هم باید ونه کړم. بنده د ځان لپاره بې له دې بلـه هـېڅ لاره نـه مـومي، چـې خپلـې اړتیاوې تر انتهایي حده رالنډې کړي. په دنیا کې خپلې هیلې د تل لپاره خښـې کـړي او خپـل ځـان تـه ډېـر کـم وخـت ځانګړی او حق ته تر بل هر شي ډېر خدمت وکړي. دی مجبورېږي، چې فقط د اساسي اړتیاوو له پوره کولو وروسته چې ځومره وخت د ده لاسته ورځي، هغه د دین د دعوت په لاره کې ولګوي. په نورو ټکو کې ویلی شو، چې که خبره یـوازې په خپل فردي ژوند کې د اسلام د پلي کولو وي، نو صرف یوازې له حرامو شیانو نـه د اجتنـاب لـه لارې هـم یـو انسـان «دینداره» ژوند کولی شي. خو که خبره په اجتماعي ژوند کې د اسلام غوړولو ته لاړه شي، نو له ګڼ شمېر حلالـو شـیانو نه هم باید خپل لاس پورته کړي. بې له دې په سمه توګه ان د دې کار ابتدا هم نه شي کېدی، پای ته رسـول خـو یـې ډېره لرې خبره ده.

په لومړني حالت کې په بنده یوازې د ځان مسؤلیت راځي او په دوهم حالت کې بنده ته تر ټولو بنیادمانو پـورې د حـق د رسولو مسؤلیت ور له غاړې کېږي. په دې کار کې د بنده مصرفیتونه او ستونزې تر بې کچې انـدازې پـورې ډېرېـږي. د دې کار تقاضا دا ده، چې د اسلام د حقانیت او له هغه پرته د نورو ټولو افکارو او نظریاتو د نه حقانیت بې پناه یقین پیدا کړئ، تر څو د اسلام یو زورور مبلغ درنه جوړ شي. تاسو به د اسلام تفصیلي پوهه ترلاسه کوئ، تر څو د نورو په مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په واضح اسلوب کې بيان کړای شي. د هغو ناسمو افکارو او نظرياتو په خلاف به دلايل وړاندې کوئ، چې انساني ذهنونه يې متاثر کړي دي، تر څو خلک دې ته وهڅېږي، چې باطل پرېږدي او د حق په لور را ودرومي. يوه، يوه فرد ته به ځان رسوئ او د هغه د اروايي وضعيت، حالاتو او د هغه د درک د قابليت له مخې به هغه په خبره پوهوئ. له ځان نه به د اسلامي اخلاقو خورا اعلى بېلګه جوړوئ تر څو ستاسې ژوند ستاسې د ادعا ترديد کوونکی نه وي، بلکې د هغه په صداقت باندې شاهدي ورکړي. لنډه دا چې د فرايضو او مسؤليتونو يو ستر ليکلړ دی، چې ستاسې د ټول ژوند او ستاسې ټوله دارايي درنه غواړي. نو د داسې يوې فريضې د مسؤليت له اخيستو وروسته له بنده سره په بل شي کې د دلچسپي اخيستو فرصت چېرته پاتې کېږي.

دا د هجرت دوهم قسم دی، يانې د ديني تقاضاوو د پوره کولو لپاره له خپلو شخصي تقاضاوو څخه تېرېدل؛ چې کله د دين اړتياوې ستاسې له خپلو اړتياوو سره په ټکر کې وي، چې کله د دين کار درنه خپل ټول وخت او ټولې وړتياوې غواړي او چې کله د دين تقاضا دا وي، چې تاسې ان خپله خوښي، خپله ارامي او ان خپل او بل هم پرېږدئ او د دين په خوا ودانګئ، نو په دې وخت کې تاسې خپل هر څه د دې دين لپاره قربان کړئ او هېڅ شی هم داسې نه وي، چې له هغه سره تړاو تاسې د دين له لارې څخه راوګرځوي. همدا هغه حقيقت دی، چې په لاندې آيت کې بيان شوی دی.د مؤمن، **مهاجر او مجاهد في سبيل الله** د لوړو درجاتو له راوړلو وروسته ارشاد دی:

**«قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ.» (توبة: ۲۴)**

ورته ووايه: که پلرونه مو، زامن مو، وروڼه مو، مېرمنې مو، خپل خپلوان مو، هغه مالونه چې ګټلي مو دي، هغه سوداګري چې تاسو يې له سړېدو وېرېږئ او هغه کورونه مو چې (ډېر) يې خوښوئ، تر الله، رسول يې او د هغه په لار کې تر جهاد کولو درته غوره وي نو بيا تر هغه صبر وکړئ چې الله خپله فيصله درته راوړي او الله فاسقانو خلکوته لارښوونه نه کوي.

په آيت کې چې کوم څيزونه ياد شوي دي، هغه ټول له آره روا دي او په خپل ذات کې يو هم حرام نه دی، خو مؤمنانو ته ويل شوي دي، چې دا هر څه پرېږدئ او د خدای په لور ور ودانګئ او څوک چې داسې ونه کړي، هغوی به فاسقان (يانې ژمنه ماتوونکي) ګڼل کېږي. الله تعالی دا غوښتنه زموږ له پيشروانو صحابه کرامو رضوان الله تعالی عليهم اجمعين څخه کړې وه، چې د روستي پيغمبر په وسيله يې له خپل رب سره دا ژمنه کړې وه، چې هغوی به د دين د سربلندۍ لپاره په هلو ځلو کې خپل ټول ځواک په کار اچوي. چې کله د صحابه کرامو په دې ژمنه باندې شل کاله تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول او هغوی له پرلپسې قربانیو وورسته دا ثابته کړه، چې هغوی د دین په خاطر له خپل هر څه نه تېرېدو ته تیار دي، نو د تبوک غزوې نه له راستنېدو وروسته په ۹ هـ کې الله تعالی په لاندې ټکو کې د هغوی د کوششونو د قبولیت اعلان وکړ:

**«إِنَّ اللّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللّهِ فَاسْتَبْشِرُواْ بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ.»**

**(توبة: ۱۱۱)**

بې شکه الله له مؤمنانو څخه د هغوی ځانونه او مالونه په دې پېرودلي چې د دوی دپاره به جنت وي، هغوی به د الله په لار کې جنګېږي نو وژني او وژل کېږي به – دا پر الله حقه وعده ده په تورات، انجیل او قران کې. او څوك به تر الله زيات د خپل لوز پوره کوونکی وي، نو پر خپلې دغې سودا چې کړې مو ده خوښ اوسئ او همدا ستر بریالیتوب دی.

دا هجرت یا په نورو ټکو کې د روا مفاداتو قرباني د انسان لپاره د خدای پرستي وروستی امتحان دی او د همدې په ذریعه د خدای دین هم د ځمکې په مخ ټینګېږي. دا د کلمة الله د اعلاء لپاره د هلو ځلو لازمي جز دی. هغه خلک چې د دې کار لپاره مخکې راووځي، خو حال یې دا وي، چې په دې دنیا کې د خپل مقام له خوندي کولو وروسته د اخرت کار کول غواړي، چې د خپل ژوند د معیار ټیټولو ته اماده نه وي، چې د خپلو اولادونو اینده په خطر کې اچول په زړه ونه مني، چې د خپل دنیوي ژوند هیلې او خواهشات قربان نه کړي، چې دا فکر ونه لري، چې خپلې اقتصادي بوختیاوې کمې کړي او د دین خدمت ته باید لا ډېر وخت ورکړي. بلکې د دې برعکس تل په دې فکر کې وي، چې په څه ډول کوم بل لوی کاروبار وکړي، چې خپلې تر سر تېرې خرچې پوره کړي. لنډه دا چې هغه خلک چې دومره حوصله نه لري، چې د نن په ګټه باندې د سبا ګټې ته لومړیتوب ورکړی شي. داسې خلکو په تاریخ کې هېڅ کله دین نه دی سربلند کړی او تر څو چې دا ځمکه او اسمان ودان دي، په اینده کې هم د دغسې خلکو په لاس دا کار نه شي کېدی.

## جهاد

اوس جهاد در واخلئ. د جهاد معنا د یوه کار لپاره خپلې وروستۍ هلې ځلې کول دي. دومره کوشش، چې انسان په کې ستومانه شي. د هجرت په څېر جهاد هم کوم لنډمهالی فعالیت نه دی، بلکې یو داسې عمل دی، چې له ټول ژوند سره تعلق لري. جهاد یوازې په جنګ‌غالي کې نه کېږي، بلکې له ایمان راوړو سره سمدستي د جهاد لړۍ هم پیلېږي او د ژوند تر روستیو سلګیو پورې دوام کوي. په یوه غیر اسلامي ټولنه کې د جهاد مثال بالکل د مارکس په دیالیکتیکي فلسفه کې د یوه نظام په داخل کې د هغه د ضد په څېر دی. جهاد یوه زبردسته ننګونه ده، چې د یوه نظام په داخل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه د دښمن په حیث سر راهسکوي. په جاهلي ټولنه کې د یو چا اسلام منل په اصل کې د خپلې زمانې پـه خلاف پرېکړه کول دي. دا پرېکړه که له سم شعور او بشپړ هوډ سره وشي، نو د بالکل حتمي پایلې په توګه یې د ټولنې لـه هـر فرد او له ټولو بنسټونو سره تصادم پیلېږي. یو پلو د زمانې ټولنیز نظام وي، چې د خپلو ټولـو نظـري او عمـلي اړخونـو پـه اعتبار د ژوند په ټولو برخو یې سیوری غوړولی وي. بل پلو ته دغه د ایمان خاوند وي، چې له دې نظام سره مختلف او یو بل راز ژوند د خپلې شاوخوا په دنیا کې لیدل غواړي. له ماحول سره دا اختلاف له ده نه یو داسې تونـد غـاز جـوړوي، چې په یوه محدود لوښي کې بند وي او هره شېبه د راوتلو لپاره ناکراره وي. د کشمکش او جدوجهد دغه بهیـر د انسـان له خپل نفس نه پیلېږي او د تمدن مختلفو ګوټونو ته له خوربدو وروسته تر هرې هغې معاملې پورې ځان رسوي، چې له انساني ژوند سره یې راکړه ورکړه وي. دا بهیر دوامداره روان وي او ورځ په ورځ په سرعت اخـلي. تـر دې چـې هغـه وخـت راورسېږي، چې یاد کشمکش خپل وروستي ټکي ته ورسېږي. د ماحول پولې ماتې شي او جاهلي نظام لـه خپلـې مـاتې سره د اسلام لپاره ځای تش کړي.

د جهاد اصل حقیقت د خدای په لاره کې د سفر کولو لپاره ځان سنړول دي. په قرآن کریم کې د خدای دین ته «نجد» ویل شوي دي، چې معنا یې لوړ مقام دی او په دې دین باندې عمل کول یوې هسـکې تـه لـه ختلـو سره تشبیه شـوی دی. (**بلد: ۱۱-۱۰**) د همدې تشبیه په مټ موږ د جهاد په حقیقت ځان پوهولی شو. په دنیا کې د ژوند تېرولو فقط دوه لارې دي. یوه د نفس له غوښتنو سره سمه لاره او بله د خدای له خوښې سره سمه لاره. یو نامسؤلانه ژوند دی او بـل د مسؤلانه ژوند نوم دی. لومړنۍ لاره بې حده اسانه ده او دا بله لاره بې حده ګرانه. په لومړني حالت کې له پورتـه لانـدې راکوزېدل دي او په دوهم حالت کې له لاندې نه بره هسکېدل دي. موټر پـه ځـوړ بانـدې خـوشي کـړئ، نـو پخپلـه بـه لاندې راورغړي او کومه غیرمعمولي هڅه نه غواړي. خو که همدا موټر کومې هسکې تـه خېـژوئ، نـو دوامـداره خـواري ورته پکار ده. له یوه ستومانوونکي زحمت پرته هېڅ څوک خپل موټر له لاندې څخه بره نـه شي خېـژولی. همدغـه عمـل چې بیا د خپلې زمانې او خواهشاتو په خلاف او د خدای په لوري د خپل ژوند د رهبري کولو لپاره ترسره شي، مـوږ یـې د جهاد په نوم پېژنو.

انسان چې کله دا پرېکړه وکړي، چې دی به د خدای له خوښې سره سم ژوند تېروي، نو سمدسـتي ورمعلومـه شي، چـې دلته دوه داسې ځواکونه دي، چې د ده د ارادې په لاره کې ډېر لوی خنډ دي. یو پخپله د ده نفس دی، بل طاغوت. له نفس نه مراد د انسان هغه جذبه ده، چې په هر حال کې د ځان لپاره لذت او ارامي خوښوي. تل د اسـاني پـه لټـه کـې وي، عزت او برتري ته رسېدل غواړي. دا فکر نه کوي، چې څه باید وشي او څه باید ونه شي، بلکې پـه کومـه خـوا یـې چې زړه غواړي، هماغه لوري ته یې مخ نیولی وي او روان وي. همدا جذبه دی دې ته لمسوي، چې هر هغه کار وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ده خواهشات ورسره تسکین مومي او هغه کارونه ونه کړي، چې د ده خواهشاتو ته صدمه رسوي. او له طاغوت نه مراد هغه بیروني ناسم اقتدار دی، چې د ماحول تصوراتو، د وخت نظریاتو او د عوام الناس د خواهشاتو په بڼه په انسان باندې فشار اچوي. یاد طاغوت د فرد په ژوند کې په متکبرانه چال چلند کې ځان ښکاره کوي او په اجتماعي ژوند کې د غیرخدایي اقتدار په بڼه. دغه خارجي ځواکونه په سیده توګه هم مزاحمت کوي او په ناسیده توګه هم. پـه ناسیده ډول داسې چې دغه ځواکونه له عملي پلوه په ټولنه باندې حاکم وي، نو له دې امله د ژونـد پـه ټولـو ګوټونـو کـې د همدوی نظریات خواره شوي وي. د انسان لپاره بې له دې هېڅ لاره نه پاتې کېږي چې دغه نظریات ومني او خپل لاسونه هم په کې ککړ کړي او بې له دې د ده لپاره د ژوند امکان نه وي. او نېغ په نېغـه ځکـه مزاحمـت کـوي، چـې پـه دغسـې یـوه چاپېریال کې د حق په لاره باندې د تلو اراده د دې ځواکونو لپاره زهرِ قاتل او د حاکم نظام لپاره د مرګ د مرمۍ په څېر وي. همدا ده، چې هر څوک له دغه ډول ارادې سره سر راپورته کوي، نو طاغوت د هغوی د مخنیوي او ځپلو لپاره خپل ټول زور په کار اچوي او په خپله دایره کې یې د ژوند له فرصتونو نه محروم او بې برخې کېنوي.

په دې حالاتو کې چې کله یو شخص د خدای په لور رامخکې کېږي، نو له خپل درون نه تر بیرونه او لـه افکـارو نـه تـر عملي ډګره پورې ګام په ګام له بې شمېره خنډونو سره مخ کېږي. کله به د ارامي په مقابل کې تکلیف ګالي، کله به یـو خوندور میلان پرېږدي او د یوې وچې کلکې عقیدې د منلو لپاره به هلې ځلې کوي. کله به د ناروا ګټو د انبارونو په ځای په یوه حقیر حاصل باندې د ځان د راضي کولو لپاره ځان سره زور او زیاتی کوي. کله به د عزت او شهرت پـه ځـای پـه ګمنامي او ذلت باندې د قناعت لپاره مجاهدې ته غاړه ږدي. کله به له خپلو روا حقونو او خپلو واقعي ګټو نه د محرومیت په سر ځان ته قناعت ورکوي. لنډه دا چې د ده لپاره مختلفې لارې غځېدلې او پوره اختیـار ورکـول شـوی دی، چـې پـه هره لاره غواړي، لاړ دې شي. په یوه خوا چې ځي، د دنیا هر شی به یې د سترګو مخې ته پراته وي، او په بله خوا کـې به په ظاهر کې هېڅ شی هم په لاس یا په نظر نه ورځي. په یوه خوا کې خپل نفس دی اړ کوي، چې اسانه لـوری بایـد ورخپل کړي. په بله خوا کې خارجي قوتونه د دې مقصد لپاره خپل ټول زور په همدې لوري اچـوي. خـو دی د دې ټولـو خنډونو او فشارونو باوجود اسانه او خونـدوره لاره پرېـږدي او پـه زوره خپـل ځـان پېچلـې لارې تـه راکشـوي. د همـدې کشمکش نوم جهاد دی.

هغه څه موږ یې اجتماعي انقلاب بولو، هغه د همدې کشمکش یوه طبیعي پایله ده، چې وروسته ترې په ماحول بانـدې د اسلام غلبه حاکمېږي. ځینې وایي، چې اجتماعي انقلاب راوستل د اسلام اصل مقصود دی. څوک بیا وایـي، چـې دا کار هدف نه دی، وسیله ده. خو حقیقت دا دی، چې انقلاب د یوه دوامداره عمل وروستۍ پایله ده. د اسلام سره سـم د ژوند او مرګ هغه اراده چې په ابتدا کې په زړه کې راټوکېږي، چې کله د عمل جامه واغوندي او له ذهن نـه راووځـي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ماحول کې خپور شي، نو د همدې خپرېدنې يوې ځانګړې دايرې ته مور اجتماعي انقلاب وايو. انقلاب د مصنوعي ونې غوندې نه شو زرغونولی او نه يې په بوجيو کې له خارج څخه را واردولی شو، بلکې انقلاب د يوه عمل د طبيعي پايلې په توګه پخپله له خپلې ځمکې څخه سر راپورته کوي. هغسې چې په هګۍ کې د يوه ژوندي چرګوړي وجود دا معنا لري، چې يوه ورځ به دا پاسنی پوټکی ماتېږي او يو ژوندی زړندی چرګوړی به ورنه راوځي، همداسې په مخالف چاپېريال کې هم د يوې اسلامي ډلې وجود د هغه ماحول لپاره د مرګ حکم لري. که دا ډله په خپل ايمان کې مخلصه وي او د خپلې عقيدې د عملي کولو لپاره رښتونی هوډ لري، نو د دې معنا دا ده، چې دوی هره شېبه د باطل دېوال د تزلزل په خوا روان کړی دی او دغه شان يوه ډله به په خامخا دغه دېوال ړنګوي، او د دې دېوال دننه دوی پخپله نه شي پاتې کېدی.

جهاد له هر هغه خنډ سره د جګړې او کشمکش نوم دی، چې په دين باندې د عمل کولو په لاره کې مخې ته راځي او دا چې دغه خنډ د انسان له درونه هم راهسکېږي او له بيرونه هم، نو ځکه په جهاد کې بنده کله له خپل نفس سره په مقابله کې وي او کله بيا له خارجي سره دنيا سره لاس او ګرېوان وي. کله به په خپلو هوسونو پسې له تېغ سره راوځي، کله به د ژبې له لارې د نورو په تګلاره ګوتڅندنې کوي او کله به د لاس په زور سره د حق لارې خنډونه ايسته کوي. د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد دی:

**«جاهدوا أهواءكم كما تجاهدون أعداءكم» (مفردات امام راغب)** له خپلو هوسونو سره داسې جهاد وکړئ لکه له خپلو دښمنانو سره چې جهاد کوئ.

خو جهاد د خپل اصل حقيقت په اعتبار يوازې د يوه ظاهري عمل نوم نه دی، بلکې د هغه ځانګړي کيفيت نوم دی، چې د يوه عمل په نتيجه کې پيدا کېږي. ظاهري شکلونه د همدغه کيفيت د پيدا کولو لپاره دي، نه دا چې پخپله د همدې ظاهري شکلونو نوم جهاد دی. يو شخص شپه ورځ خواري کوي او په اسلام باندې د اعلی درجې کتاب ليکي. په ظاهر کې دا هم د جهاد يو شکل دی. خو که مقصد يې دا وي، چې په دې کتاب سره به شهرت ومومي او يا به مالي ګټه ورباندې وکړي، نو بيا يې دا عمل هېڅ قيمت نه لري. د قرآن کريم په اصطلاح کې يې دا کار د جهاد بللو مستحق نه دی. خو که د يوه نېک کار د سرته رسولو په وخت کې يې په زړه کې ناسم خيال تېرېږي او له دې تصور نه يې وجود لړزېږي، چې په دې سره به مې ټوله خواري په اوبو لاهو شي، او له سترګو يې اوښکې روانې شي او بې اختياره يې له خولې ووځي، چې «خدايه! ما د شيطان منګولو ته مه سپاره که نه وي هلاک به شم.» نو همدا جهاد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره یوازې په جهاد پورې اړه نه لري، بلکې د نورو عباداتو خبره هم په همدې ډول ده. په دین کې چې څومره کارونه د کولو لپاره ښوول شوي دي، هغه مازې د خپل فورم په اعتبار مطلوب نه دي، بلکې د حقیقت په اعتبار مطلوب دي. هغه اذکار او دعاګانې چې فضیلت یې بیان شوی دی، هغه عبادتونه چې ادا کول یې فرض ګڼل شوي دي، هغه اخلاق او کړه وړه چې دا اهمیت ورکول شوی دی، چې له هغو پرته له سره د ایمان دعوه معتبره نه ده، د هغو ټولو هدف دا ښودل دي، چې د خدای پرسته ژوند عملي بڼې څه دي، نه دا چې کوم کوم اعمال او مظاهر په خدای پرستي کې شامل دي. په اصل کې خدای ته دا مطلوب نه دي، چې په ژبه باندې د هغه لپاره څو د ستاینې کلمې تکرار شي، د لمانځه، روژې او حج په نوم ځینې ځانګړې عبادتي افعال ترسره شي، له مال نه یوه ټاکلې برخه په غریبانو ووېشل شي. یا د ژبې او قلم له لارې د خدای دین ته تبلیغ وشي. بې له شکه چې همدا هغه اعمال دي، چې د خدای پرسته ژوند لپاره د لازمي برنامې حیثیت لري او په بشري ژوندانه کې چې هرکله په خدای باندې ایمان خپل ځان په عملي شکل کې ښکاره کوي، نو په همدې شکلونو کې به یې ښکاره کوي. له دې پرته الله تعالی کوم بل قالب او چوکاټ نه دی ورته پنځولی. خو د دې ظاهري شکلونو تر شا هغه اصل شی چې خدای ته مطلوب دی او هغه چې په موجودیت سره یې انسان د دې مستحق ګرځي، چې د الله تعالی رحمتونه ورته حاصل شي، هغه په اصل کې د زړه هغه دروني کیفیت دی، چې د انسان جذبات او افکار بالکل د خدای خوښې ته تابع شي. او هماغه څه یې خوښ وي، چې خدای یې خوښوي، او هغه شی یې له پامه بد وي، چې خدای یې نه خوښوي. هغه څه چې د خدای له رضا سره په ټکر کې وي، هغه سره دښمني راواخلي او هغه څه چې خدای ته محبوب وي، د هغه د ترلاسي لپاره ان خپله وروستۍ سرمایه هم قرباني کړي.

په قرآن کریم کې له ښودل شوي ژوند سره سم ژوندل کول یا نه کول، زمونږ اینده په همدې باندې ولاړه ده. یو شخص چې په دې حقیقت باندې پوه وي، چې د دې دنیا یو خدای دی، او بیا یې په دې حقیقت هم ایمان راوړی وي، چې د اخرت یوه ستره ورځ راروانه ده، چې ټول انساني نسل به د خدای په عدالت کې راټولېږي. نو د ده ارمان بې له دې بل هېڅ هم نه شي کېدی، چې د قیامت په دې بوږنوونکې ورځ، چې کله دی د خپل واکمن په وړاندې ولاړ وي، نو د ده په هکله الله تعالی دا ووایي، چې دا زما بنده دی، چې د دنیا په ژوند کې ماته وفادار و. خو دا واضحه خبره ده، چې دا مقام مازې د خواهش په سر یو چاته نه رسېږي. د دنیا د معمولي واکمنیو حال دا دی، چې یو چاته د وفاداري شهادتنامه فقط هغه وخت ورکوي، چې کله یې دین، اخلاق او وجدان هر څه ورنه پېرلي وي. نو هغه چې د ټولو حاکمانو حاکم دی، چې بې حده غیرتي دی، چې په خپله خدایي کې د چا معمولي غوندې شراکت هم نه زغمي، نو هغه به مازې د زړه په هوس یا د ژبې په حرکت باندې خوشاله کېږي او یو چاته به مازې په دې خبره د وفاداري ویاړ وربښي، چې هغه کس همداسې غواړي او پروا نه کوي، چې د خپلې وفاداري د عملي ثبوت لپاره یې کوم خاص کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي وي يا نه وي کړي؟ حقيقت دا دی، چې د نورو ټولو وفاداريو په څېر خدای ته د وفادار کېدو ارمان هم ستر جدوجهد غواړي. د دنيا په ادارو کې د يو چا ارزښت يوازې هغه وخت منل کېږي، چې خپلې بهترينې وړتياوې يې د هغې ادارې لپاره ځانګړې کړې وي. يو کاروبار د خپلې ګټې امکانات يوازې هغه وخت د يو چا لمنې ته غورځوي، چې بنده خپل هر څه دې دوکان ته وقف کړي وي. د حکومتونو په نزد يو شخص فقط هغه وخت د اعتماد او احترام مستحق ګرځي، چې خپل ځان يې په بشپړه توګه ورته سپارلی وي. ټيک همداسې د الله تعالی په نزد هم د وفادارۍ مقام يوازې هغه چاته حاصلېږي، چې د خپلو قربانيو له لارې د دې وياړ د حقدار کېدو ثبوت وړاندې کړي. شرک نه د دنيا معبودان خوښوي او نه يې خدای خوښوي.

دا حقيقت خپلې مخې ته ونيسئ او بيا هغه ورځ تصور کړئ، چې موږ او تاسې او ټول پروني او سباني نسلونه به د خدای خواته په داسې حال کې راټولېږو، چې له يوه رب العالمين پرته به د ټولو اوازونه ټيټ وي. هغه ورځ چې بنده به له ځانه پرته بل هر څوک هېر کړي وي، و دې شي، چې يو دوست او ډېر نيږدې خپل يې هم وي. هغه ورځ چې يوازې حق خبره به وزن لري او له حق پرته به نورو ټولو شيانو خپل وزن بايللی وي. هغه ورځ چې انسان به اسوېلي باسي، چې کاش خپل ټول عمر يې مازې د همدې ورځې لپاره په تياري کې لګولی وای. دا به د پرېکړې ورځ وي. زموږ او د هغې ورځې ترمنځ يوازې د مرګ فاصله ده. هغه مرګ چې هېڅ څوک خبر نه دي، چې کله به راځي. هغه شېبې چې نن ورځ په موږ تېرېږي، د هغې هرې شېبې پايله به په اينده کې بيليونونه کاله ګالو. له موږ نه هر شخص د يوه داسې انجام په لوري رهي دی، چې هلته خو يا دايمي عيش ورته ټاکلی دی او يا دايمي عذاب. د ژوند مثال د ځوړ په څېر دی، چې ټول انسانان په ډېر سرعت سره په منډه روان دي. هره شېبه چې تېرېږي، موږ هغه وروستي انجام ته ورنيږدې کوي، چې زموږ هر يوه لپاره ټاکلی دی.

موږ د ژوند يوازې څو ورځې په لاس کې لرو. داسې څو ورځې چې انجام به يې ميليونونه او بيليونونه کاله نه، بلکې تر ابد الابده پورې تېروو. هغه انجام چې ارام يې ډېر خوږ دی او کړاو يې ډېر دردوونکی. هر ځل چې کله لمر ډوبېږي، نو ځان سره ستاسې د ژوند يوه ورځ هم کموي. هغه ژوند چې د راتلونکې بوړنوونکې ورځې لپاره له چمتووالي پرته د بل هېڅ شي فرصت په کې نشته. زموږ د ژوند مثال د يخ پلورونکي په څېر دی، هغه چې سودا يې هره شېبه د ويلې کېدو په حال کې ده او د کاميابۍ يوازنی صورت يې دا دی، چې له وخت تېرېدو مخکې خپله سودا خرڅه کړي، که نه وي په پای کې به هېڅ هم ورسره نه وي او له دوکان نه به تش لاس وتلو ته اړ کېږي. بيا خو مخکې له دې چې مرګ راته راشي او له هغې دنيا نه مو جدا کړي چېرته يوازې کول دي او هغې دنيا ته مو ورسوي چېرته چې کول نشته بلکې يوازې ترلاسه کول دي، زموږ لپاره لازمي ده، چې د خپلې انرژۍ او وړتياوو لپاره سم ځای وسنجوو. موږ ټولو ته يوه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کايناتو د واکمن په وړاندې دربدل راپېښ دي. نو نېکمرغه دي، هغه خلک چې د خپل رب خواته په داسې حال کې ورشي، چې په دنيا کې يې د حق لپاره هر څه بايللي وي. په دې چې د الله تعالی نظر به تر ټولو دمخه په همدوی لګيږي.

## د انسان رښتونی مقام

يو بزرګ سړی په لاره روان و او د خپلو معتقدينو لويه ډله ورسره وه. په لاره کې يوه سوالګر ودرول او ورتـه ويې ويل «تاسو به ډېر څه لوستي او ليدلي وي. يوه خبره زما هم درسره واورئ.» بيا يې زياته کړه چې «واورئ! د قيامت پـه ورځ بـه د انسان ټول کتاب نه کتل کيږي. بنده چې په رښـتيا پـه کـوم مقام کې وي، بس همالته به ګوتـه ورتـه کېښـودل شـي.» سوالګر دومره خبره وکړه او بيا په پټه خوله له هغه ځايه پناه شو.

انسان د خلکو په منځ کې په دې پېژندل کيږي، چې يو شـوک ويناوال دی، ليکوال دی، پلاني مقامونه ورسـره دي، پلانـي او پلاني هېواد ته يې سفر کړی دی، د دومره خلکو ډله ورسره ده، پلانکی او بيستانکی لاسته راوړنې لري، او داسې نور. خو زياتره وختونه دا ټول شيان مصنوعي وي. انسان په حقيقت کې يـو بل ځای وي، خو په سترګو په يو بل ځای کې ليدل کيـږي. د ده ټول فعاليتونه د خپل ذات په محور کې تاوېږي. سره له دې چې په ظاهر کې به داسې ښکاري، چې دی د خدای او د هغه د دين لپاره سرګرم دی.

يو انسان چېرته دی، په دې موږ نه شو پوهيدی. خو خـدای ډېر ښه ورباندې خبر دی او په اخرت کې به د يوه انسان د ژوند په هماغه مقام ګوتـه ورتـه کيـږدي، چېرته چې په حقيقت کې ده ژونـد تېـر کړی دی.

يو وزيراعظم چـې د واک پـه څـوکۍ باندې وي، نو د هېواد ټولې رنګينۍ پـه هغه پسې رواني وي. په هر لوري بـس د ده د شاندارو لاسته راوړنو غوغاوې وي. داسې ښکاري ته وا تر ده بل د انسـانيت پيکر نشته.

خو کله چې د ولس عدالت د ده له مخـه پرونی اخلي او د مصنوعي رنګينيـو لـه تخت نه يې راکوزوي او هلته يې رسـوي، چېرته چې په واقعيت کې و، نو ناڅاپـه ليدونکي ګوري، چې د ده ظاهري روښانه ژوندون په بشپړه معنا يو تياره ژوند و. ده په ټوله کې د خپل ذات په سطحه کې ورځې شپې تېرولې. سره له دې چـې د ده تر امر لاندې ټولې رسنۍ په دې پروپاګنـد بوختې وې، چې نوموړی د قام د خدمت او هېواد جوړونې پـه سـطحه کـې ژونـد تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تاریخ انقلابونه



د ستورپوهنیزو څېړنو لـه مخـې یـوه سـتر انفجـار (Big Bang) طبیعي جهان خپلې تاکلې لویې لارې ته برابر کړ. د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دنیا دوهـم سـتر انفجار دی، چې بشري جهان یې خپلې ټاکلې لویې لارې ته رهبري کـړ. د دې لـړۍ دریـم انفجـار هغه دی، چـې علمي انفجار (Knowledge Explosion) ورته ویل کېږي. په اوسنی زمانه کې د فطرت د رازونو له کشفېدو سره هغه حقـایق د علـم پـه ژبـه د فهـم وړ گرځېـدلي دي، چـې پیغمبرانو د الهام پـه ژبـه څرگنـد کـړي وو. د کاینـاتو درې مهم‌ترین واقعات هغه دي، چې قـرآن کـریم پـه دې ټکـو کې بیان کړي دي.

**الف) د کایناتو فتق (انبیاء:۳۰)**

**ب) د دین غلبه (فتح:۲۸)**

**ج) د افاقي او نفسي نښانو ښـکاره کېـدل** (فصلت: ۵۳)

د قرآن کریم له مخې کاینات په ابتدا کې په **رتق** (نښـتي) حالت کې و. او بیـا الله تعـالی **فتق** (بېـل) کـړ. دا گـواکې لومړنی ستر انفجار و، چې د ستورپوهنیز ساینس له اټکل سره سم ۱۰ بیلیونه کاله دمخه پـېښ شـو. دې انفجـار د کایناتو په خپل ځان کې نښتي مادې ته په خارجي جهت حرکت ورکړ. مادې پـه خوربـدو پیـل وکـړ او بلاخـره هغه بشپړ کاینات او شمسي نظام منځتـه راغـی، چـې نـن ورځ موږ ورسره بلدتیا لرو. د بابیل د روایاتو له مخې لـه نـن نـه شاوخوا اته زره کاله دمخه چې کله لـومړنی انسـان (آدم) پیدا کړای شو او په عراق کې د دجلې او فـرات سـیندونو تـرمنځ (**پیدایش** ۲: ۱۴) یـې اسـتوگنه وکـړه، نـو دنیـا پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بشپړه توګه اماده شوې وه او هر هغه څه په کې په کامله توګه موجود و، چې انسان ته د خپلو اړتیاوو لپاره پکارېدی شوی. (**ابراهیم: ۳۴**) د بشر-پوهانو د اټکل له مخې د انسان له پیدایښت نه تر ننه پورې شاوخوا سل بیلیونه انسانان د ځمکې په مخ پیدا شوي دي.

د خپلو مادي اړتیاوو لپاره انسان ته یو بشپړ کاینات ترلاسه شو. خو اوس ده یوه داسې لارښودکتاب ته اړتیا لرله، چې د هغه په رڼا کې د ځان لپاره سپېڅلی ژوند یا حیاتِ طیبه (**نحل: ۹۷**) ودان کړي. په دې ترتیب که اولنی شی ظاهري نعمت و، نو دا دوهم باطني نعمت (**لقمان: ۲۰**) و. دې ځای کې الله تعالی د قلم (**علق: ۴**) وسیله غوره کړه. او د نورو بشري اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې انسان ته هغه ابدي هدایات واستول، چې د هغو په رڼا کې د خپلو فعالیتونو لپاره د پیل سمه نقطه ومومي او هغه بنیادي اصول پیدا کړي، چې د هغو له مخې خپل ژوند ترتیب کړای شي. همدا ده، چې کله آدم ځمکې ته راغی، نو د خدای دا لارښوونې یې هم ځان سره راوړې وې. ویل کېږي، چې آدم دغه لارښوونې په ختېنو کتیبو ولیکلې او بیا یې هغه پخې کړې او په خپلې کورنۍ کې یې خوندي کړې. خو د آدم راتلونکي نسل د دغه کتیبو حفاظت ونه شو کړای. نو الله تعالی د بل پیغمبر په لاس یو ځل بیا خپلې لارښوونې نازلې کړې. خو انسان بیا هغه لارښوونې ضایع کړې. له آدم نه وروسته ادریس، نوح، ابراهیم، موسی (علیهم السلام) او د هغوی په اولادونو کې بې شمېره پیغمبران مبعوث شول او د خدای له لوري به یې صحایف او کتابونه (**فاطر: ۲۵**) انسانانو ته سپارل. خو بیا بیا ځلې همدا شوي دي، چې راتلونکي نسلونه به د هغو په ساتنه کې پاتې راغلل. کله به علماوو د الله په کتاب کې داسې خبرې ګډې کړې، چې د دواړو بېلول به ناشونی شو (**تورات**). کله به اصلي متن غایب شو او یوازې ژباړه به یې پاتې شوه (**انجیل**). کله به په ځمکني یا اسماني آفت کې کتاب ضایع شو (**د ابراهیم صحیفه**). په دې ډول انسان خپل دا اعتماد له لاسه ورکړ، چې هغه پخپله د الهي کتاب ساتونکی (**مائده: ۴۴**) شي. بلاخره الله تعالی د خپلې ټاکلې طرحې له مخې پرېکړه وکړه، چې د کتاب د نازلولو په خوا کې یې پخپله د حفاظت مسؤلیت هم په غاړه واخلي (**حجر: ۹**) تر څو هغسې چې په انسان باندې مادي نعمت تمام شوی دی، همداسې د هدایت نعمت هم د هغه لپاره په یقیني ډول تمام شي. (**نحل: ۸۱**)

په اوومه میلادي پېړۍ کې د اسلام د پیغمبر بعثت د خدای دوهم ستر انفجار و. د فاران (**استثنا ۳۳: ۲**) په سیمه بکه (**زبور ۸۴: ۶**) کې د بني اسرائیلو د ورور (**استثنا ۱۸: ۱۸**) بني اسماعیل په نسل کې د اوروني شریعت (**استثنا ۳۳: ۲**) پیغمبر واستول شو. د دې پیغمبر لپاره الله تعالی ټاکلې وه، چې زوال به ونهویني او نه به تر پښو لاندې شي، تر هغو چې په ځمکې کې صداقت او رښتینولي ټینګه نه کړي (**یسعیا ۴۲: ۴**) همدا خبره په قرآن کریم کې په دې ټکو کې راغلې ده: خدای به د دې رسول په ذریعه خپل دین ته غلبه ورکړي او خپله رڼا به خامخا بشپړوي، که څه هم کافرانو او مشرکانو ته هر څومره بد وبرېښي. (**براءة، فتح، صف**). د رڼا له بشپړولو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مراد له نزول نه وروسته تر قیامته پورې د قرآن کریم په خوندي بڼه ساتل دي. او له «غلبې» نه مراد د قرآن په ملاتړ کې داسې ځواک راهسکول دي، چې په دې کتاب کې د تحریف او بدلون هره هڅه ناشونې وګرځوي.

په قرآن کریم کې ویل شوي دي، چې: نن کافران ستاسې د دین له خوا ناهیلي شول، نو له هغوی نه مه وېرېږئ بلکې له ما ووېرېږئ، نن مې ستاسو دین درته پوره کړی، خپل نعمت مې درباندې تمام کړی او همدغه اسلام مې ستاسو د دین په توګه درته غوره کړی دی. (**مائده: ۳**) خو د دې مطلب دا نه دی، چې له اسلام نه دمخه دین ناقص دین و او اسلام بشپړ دین دی. خدای خپلو بندګانو ته هېڅ کله ناقص نه دی استولی. د اسلام د بشپړوالي تعلق د هغه له ابدي خوندیتوب سره دی، نه د احکامو له لیکلړ سره. د دې خبرې معنا دا ده، چې اوس په خپله سمه بڼه د دین له راتلو سره سره دا سرباری اهتمام هم شوی دی، چې تر شا یې داسې قوت راټول کړای شوی دی، چې هېڅ منکر یا نامنکر ورته هېڅ راز تاوان نه شي رسولی. همدا خبره په بل ځای کې په دې ټکو کې شوې ده: او ستا د رب وینا په رښتینولۍ او عدالت کې پوره کره ده، هېڅ څوك د هغه د خبرو (حکم) بدلونکی نه دی او هماغه ښه پوه اورېدونکی دی. (**انعام: ۱۱۵**)

په پخوا زمانه کې په قرآن کریم کې د شاوخوا دوه شلې یادو شویو او د ځینو روایتونو له مخې یو سل او څلوېښت زره پیغمبرانو په راتلو سربېره ولې داسې ونه شول، چې د الهي دین په شا کې داسې اجتماعي ځواك راټول شي، چې په انساني ژوند کې مطلوب انقلاب راولاړ کړي. الله تعالی د وروستي پیغمبر په لاس دا کار وکړ، چې خپل دین یې غالب کړ او تر قیامته پورې یې په یوه تاریخي واقعه بدل کړ، له پیغمبر علیه السلام نه مخکې راپاتې ادیان یوازې د افسانوي روایتونو مجموعه وو. د بایبل په ټکو کې «د خدای ستره ورځ» (**صفنیاه ۱: ۱۴**) د تاریخ همدا شبېه وه، چې انساني تاریخ په کې خپل مطلوب جهت ته په زور واړول شو. د همدې په خوا کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم الهي کتاب تدوین کړ او یوه ستر امت ته یې حواله کړ. چې دا کتاب ورسره واخلي او په خورا حفاظت سره یې نسل په نسل انتقال کړي. تر دې چې دا کتاب یې د چاپ تر عصره پورې ورسوه چې له هغه وروسته د دې کتاب د ضایع کېدو او بدلون هېڅ سوال نه پیدا کېږي.

د قرآني متن د خوندیتوب ارزښت څه دی؟ په دې سوال د هغو اسلامي ډلو له مطالعې نه پوهېدی شو، چې په وروسته دور کې په اسلام کې راپیدا شوې. مثلاً شیعه ګان او صوفیان در واخلئ. سره له دې چې د شیعه مذهب ابتدا د سیاسي محرک له مخې وشوه او د تصوف ابتدا د روحاني محرک تر اثر لاندې، خو دواړه ډلې ځانونه د اسلام د یوازیني سم استازي په توګه وړاندې کوي. د دوی په قول، د هېڅ بنده نجات هم د دوی د طریقې له خپلولو پرته ممکن نه دی. خو یو شخص چې د دواړو ډلو عقاید او افکار مطالعه کوي، نو په ډېرې حیرانتیا سره په دې خبرېږي، چې د دوی دغه انګېرنې او طریقې د قرآن کریم له لارښوونو سره هېڅ راشه درشه نه لري. که څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم شیعه مذهب او تصوف دواړه د قرآن کریم حواله ورکوي، خو د یوه بې طرفه بصیرت لرونکي انسان لپاره دواړه داسې متوازي مذاهب دي، چې د قرآن کریم په مقابل کې د قرآن په نوم درول شوي دي. که د قرآن متن په خپل اصلي حالت کې خوندي نه وای، نو اسلام به د انساني لاسوهنو او زیاتونو ښکار شوی و او دومره مختلفه بڼه به یې خپله کړې وه، چې د خدای د بنده لپاره به د خپل رب په رضا پوهېدل اصلاً ناشوني ګرځېدلي وو. حقیقت دا دی، چې د قرآن کریم د متن حفاظت همدومره مهم دی، څومره چې د فطرت په قوانینو کې استحکام او ټیکاو مهم دی. که د فطرت په قوانینو کې استحکام نه وای، نو ساینس به هېڅ کله منځته نه وای راغلی. همدارنګه که د قرآن متن خوندي نه وای، نو خدای پرستي به د ټولې دنیا لپاره یوه نامعلومه پدیده ګرځېدلې وه.

انسان د ځمکې خلیفه (واکمن) پیدا کړای شوی دی (بقره: ۳۰) په لاس کې د واک او اختیار لرلو له امله هر وخت دا اندېښنه موجوده وه، چې انسان دې له لارې ووځي او د خدای په ځمکه کې دې فساد راولاړ کړي. له دې فعل نه د ځان ساتلو لپاره په مخصوص ډول انسان ته د اسماوو علم (**بقره: ۳۱**) ورکول شو. له اسماء نه مراد د الله نومونه، یا په نورو ټکو کې مراد ځنې د خدای هغه نښې او نښانې دي، چې د هغه په خلق کړي کاینات کې هرې خواته نقش او خورې ورې دي. د الله تعالی دا پېژندنه په هر شي کې داسې جاري لکه ټول شیان چې د خدای تسبیح او پاکي بیانوي (**حشر: پای**). د «آدم ته مو ټول نومونه وښودل» (**بقره: ۳۱**) مطلب دا دی، چې هغه ته مو دا صلاحیت ورکړ، چې دی په هر شي کې د خدای نوم ولولي او په هر شي کې د خالق جلوې وګوري. انسان ته چې د اورېدو، لیدو او فکر کولو لوړ صلاحیتونه ورکول شوي دي، که هغه په سمه توګه وکارول شي، نو د مرغانو په چغارو کې به د خدای ذکر واوري، د ګل په رنګینیو کې به د خدای جلوه ننداره کړي. کاینات به د ده لپاره د خدای یوه بې سر و پایه هینداره وګرځي. که انسان خپل ځان ړوند او کوڼ (**اعراف: ۱۷۹**) نه کړي، نو د الهي اسماوو دا علم د دې لپاره بالکل بس دی، چې بنده له هر ډول بې لارېو نه وژغوري. هغه خادم چې سترګې یې هره شېبه د خپل څښتن عظمتونه او قدرتونه مشاهده کوي، هغه څرنګه جرأت کولی شي، چې د هغه د خوښې خلاف قدم پورته کړي.

په کایناتو کې د الله دا ټول «نومونه» له اولې ورځې نه لیکل شوي دي او د خپل فطري صلاحیت په مټ انسان تل په دې توانېدلی دی، چې دغه نومونه «ولوستلی» شي. خو هغسې چې آرنلډ ټاین‌بي (۱۹۷۵- ۱۸۸۹) لیکلي دي، چې انسان د پدیده پرستی (انیمیزم) له امله په خپله اوږده ماضي کې د دې حقایقو له مخه پرونی پورته نه شو کړای. د پیغمبرانو په ژبه پرلپسې د خدای پرستي په دعوت سربېره د فطرت پدیدو په انسان داسې اغېز ښندلی و، چې د خدای په ځای یې همدا پدیدې خپل خدایان ګڼل او د هماغو لمانځنه یې کوله. د دې پایله دا شوه، چې د انسان لپاره کاینات د لمانځنې موضوع وګرځېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال دا چې سمه خبره دا وه، چې کاینات باید د ده لپاره د تحقیق او تسخیر (**جاثیه: ۱۳**) موضوع وای.

د دې لپاره چې د اسماوو لاشعوري علم په شعوري علم بدل شي، یو دریم انفجار پکار و او دې انفجار ته اسلامي انقلاب لاره هواره کړه. د پیغمبر علیه السلام راوړي انقلاب په نړیواله کچه پدیده پرستي ختمه کړه او د خدای پرستي عمومي فضا یې پیدا کړه. دا فکري خوځښت دومره زورور و، چې هغه مشرک قومونه چې اسلام یې نه دی منلی، هغوی هم خپل ژوند په دې کې لیده، چې د غیرالله له لمانځنې لاس واخلي او د خدای پرستي د غوره کولو اواز لوړ کړي. په عیسویانو کې مارټین لوتر (۱۵۴۶- ۱۴۸۳) او هندوانو کې رامانند د همدې لړۍ مثالونه دي. په دې ډول په تاریخ کې لومړی ځل دا پېښه وشوه، چې کاینات د لمانځنې په ځای د څېړنې او ګروېږنې موضوع وګرځېد. د یوناني قیاسونو او مصري خرافاتو په بنیاد پنځېدلی فکري نظام دړې وړې شو. انسان په تش ذهن د طبیعي جهان د اسرارو په کشفولو لاسونه پورې کړل، تر دې چې هغه وخت راورسېده، چې الهامي علم او بشري علم دواړه د یو بل تصدیقوونکي وګرځېدل. د دغه تحقیق دړه لومړی په یوولسمه میلادي پېړۍ کې په اسپانیا او سیسیل کې وازه شوه او بیا په شلمه پېړۍ کې مغرب په یوه بشپړ علم بدل کړ. د پیغمبر علیه السلام په لاس رامنځته شوې پېښه (اسلامي انقلاب) د هغه مبارک او د هغه د صحابوو په ژوند کې لا مطلوب و، د همدې لپاره په قرآن کریم کې د هغې پېښې لپاره د حال صیغه کارول شوې ده (**لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ**) خو دا بله پېښه (د طبیعي علومو پیدایښت) د پیغمبر علیه السلام د انقلاب په پایله کې رامنځته کېدونکې وه، د همدې لپاره دغه دوهمه پېښه د مستقبل په صیغه کې بیان شوې ده:

| | |
|---|---|
| **سَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ فَتَعْرِفُونَهَا** (**نمل: ۹۳**) | ژر به خپلې نښانې در وښيي، بیا به یې وپېژنئ. |
| **سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ** (**فصلت: ۵۳**) | موږ به ژر خپلې نښانې د اسمانو او ځمکې په لر او بر او خپلو ځانو کې ور ووینو، تر څو ورته ښکاره شي چې هغه حق دی. |
| **بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ** (**یونس: ۳۹**) | بلکه هغه څه یې دروغ وګڼلو چې پوهه یې ورته نه وه رسېدلې او نه یې معنا او تأویل دوی ته راغلی دی. |

د معاصر ساینس په مټ چې د فطرت کوم رازونه او حقایق رابرسېره شول، د هغو ارزښت په مذهبي کړیو کې تر اوسه پورې هم کم درک شوی دی. حال دا چې ساینس د آلاء الله (**اعراف: ۶۹**) علم دی. د الهي علومو تأویل (**یونس: ۳۹**) دی. په قرآن کریم کې که د الهي آیتونو تفصیل راغلی دی، نو د ساینس کشف کړي حقایق د چارو د تدبیر (**رعد: ۲**) تفسیر دی. له دې «دریم انفجار» وروسته حقیقت تر وروستي بریده واضح شوی دی. د الهي معرفت ټولې دروازې پرانیستې دي. اوس هم چې خلک د حقیقت په موندلو کې پاتې راځي، هغوی یوازې د دې خبرې ثبوت ورکوي، چې عجله پالنې (**قیامة:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰) او ظلـم او لـويي (**نمل**: ۱۴) د سـترگو بينـايي ورنـه اخيستي ده. دا راز خلک بايـد اوس يـوازې ځلـورم انفجـار ته په تمه اوسي، هله چې شـپېلۍ (**نبأ**: ۱۸) وپوکـل شي او اوسنۍ دنيا د پاڼو غونـډې ونغښـتل شي (**انبياء**: ۱۰۴) تر څو رښتينو ته د هغوی د رښتينولۍ او بدانو ته د هغوی د بديو جزا ورکول شي.

## مؤمن څوک دی؟

مؤمن په اصل کې هغه دی، چې دا پېښـه پـه خپلـو سترگو وگوري، چې اسرافيل لـه شـپېلۍ سره ولاړ دی او دې خبرې ته منتظر دی، چې د خـدای امـر وشي او په شپېلۍ کـې وپـوکي او ټـول عالمونه لانـدي و باندې کړي. د کافر او مؤمن فرق، د حقيقت له مخې، له دې پرته نور څه نه دی، چې کافر د دنيا په سـطحه کې ژوند کوي او مؤمن د اخرت په سطحه کې. يو، په ظـاهري ژونـدون کـې ورک وي او بـل د آخـرت پـه ژوندون کې د ځان لپاره د ژوند راز موندلی وي.

«يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ» (الروم: ۷)

**ژباړه: د دنيا په ظـاهري ژونـدون پـوهېږي، خو بيا همدوی له اخرته غافل (ناخبره) دي.**

## لـه اقـدام نه دمـخه چمتووالي اړين دی

**د عربي يو متل دی: قبل الرّمی يُـراش السـهم (لــه غشي ويشتلو نه دمخه په ليندۍ کې بايد غشی سم ځای په ځای شي) غشی چې په ليندۍ کې سم ځـای په ځای نه شي او همداسې وار شي، نو هېڅ کله بـه نښه ونه شي ويشتلی. همدا راز که اقدام هـم لـه اړين چمتووالي پرته وشي، نو ناکامي يې حتمي ده.**

## اسلامي حکومتونه

| | |
|---|---|
| نبوي دور | (۶۲۲ -۶۳۲) |
| راشده خلافت | (۶۳۲ -۶۶۱) |
| اموي واکمني | (۶۶۱ -۷۵۰) |
| عباسي واکمني | (۷۵۰ -۱۵۱۶) |
| عثماني خلافت | (۱۵۱۷ -۱۹۲۲) |
| مغلي سلطنت | (۱۵۳۶ -۱۸۵۷) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له اختلاف نه ځان وژغورئ



«اې مؤمنانو! الله نه ووېرېږئ، تاسو ټول د الله په رسی منګولې ولګوئ او ګوندي مه کوئ، پخپلو کې اختلاف کول د اور د یوګړنګ پر غاړه دربدل دي، او د خدای په نزد هماغه خلک بریالي دي، چې په ډېر پام سره په هر حال کې پخپلو کې د یووالي او اتفاق فضا ساتي. له دې نه مخکې د الهي علم امانت یهودو ته ورکول شوی و. خو هغوی تفرقه او اختلاف وکړ او د همدوی لپاره سترعذاب دی. نو د هغوی له انجام نه ووېرېږئ او تاسو هم د هغوی په څېر مه کېږئ.»

(آل عمران: ۱۰۶– ۱۰۲)

دا ګوندي او اختلاف چې اسلام ورنه د ځان ساتنې امر کړی دی، بې شمېره تاوانونه لري. له هغو نه يې يو نقصان دا دی، چې د قرآن کريم په اتمه سوره کې په دې ټکو کې بيان شوی دی: «او د الله او د هغه د رسول خبره منئ او خپلو کې شخړې مه کوئ، کنه بې زړه به شئ او باد (برم) به مو لاړشي او صبر کوئ يقيناً الله صابرانو سره (مل) دی. (انفال: ۴۶)

د يووالي معنا دا نه ده، چې هېڅ اختلاف دې ترمنځ پيدا نه شي. د انسانانو په منځ کې اختلافات پيدا کېدل بالکل فطري خبره ده. خو هغه خلک چې له خدايه وېرېږي، هغوی د خبرې له وضاحت وروسته، يا خو خپل اختلافات له منځه وړي او که بيا هم اختلاف پاتې وي، نو يوازې تر خپل ذهن پورې يې محدود پرېږدي. په عملي ژوند کې د هوا ورکولو له لارې ټولنه نه وربادې خرابوي. خو هغه خلک چې زړونه يې د خدای له وېرې خالي وي، هغوی له اختلاف نه د خپل برم او عزت مسئله جوړوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتی که هر څومره دلایل راوړل شي، هغوی بیا هم خپلې تېروتنې ته غاړه نه ږدي او داسې نه کوي، چې د نظر اختلاف د دښمنۍ تر حده ونه غځوي او د خپلمنځي کرکې سبب يې ونه ګرځوي. همدا دوهم ډول اختلاف دی، چې يو قوم له پښو غورځوي او له الهي نصرت نه يې محروموي.

د رسول الله صحابه چې ټول سپېڅلي وګړي وو، د هغوی ترمنځ به هم اختلافات پېښېدل، خو هغوی به هېڅ کله اختلافات په دښمنۍ باندې بدلېدو ته نه پرېښودل. هغوی ښه خبر وو، چې له اختلاف سره سره د يووالي تقاضاوې په څه ډول پوره کړي.

حضرت معاويه بن ابي سفيان له هجرت نه اوولس کاله دمخه نړۍ ته راغی او په ٦٠هجري کې وفات شو. دی له حضرت علي بن ابي طالب نه شپږ کاله کشر و. حضرت علي چې څلورم خليفه مقرر شو، نو امير معاويه د شام حاکم و. بيا د دواړو ترمنځ اختلاف راوپارېده، چې تر حسن بن علي پورې يې غځونې وکړې. بلاخره پرېکړه د امير معاويه په حق کې وشوه. له ربيع الاول ۴۱هجري نه تر وروستي عمره پورې (۲۰ کاله) نوموړی د ټولې اسلامي دنيا خليفه و.

په هغه زمانه کې چې د علي او معاويه ترمنځ اختلافات ښه په زور کې وو، د قسطنطنيې (استانبول) عيسوي حکومت ګمان وکړ، چې په اسلامي سلطنت باندې د يرغل لپاره دا تر ټولو بهترين فرصت دی. هغوی د عيسويانو يو ستر پوځ چمتو کړ او د ايران په شمالي ولايتونو باندې يې د بريد تابيا ونيوله. دا سيمه په دې وخت کې د حضرت علي د واکمنۍ په قلمرو کې شامله وه. که دا بريد شوی وای، نو په دې وخت کې به د حضرت علي لپاره د ځان دفاع سخته شوې وه. په ظاهره داسې ښکارېدل، چې دا ټوله سيمه به جدا او د عيسوي سلطنت برخه به وګرځي.

عيسوي واکمن د حضرت علي له ستونزو ډېر ښه خبر وو او په دې هم پوهېده، چې علي، د امير معاويه لپاره د رقيب حيثيت لري او امير معاويه به د حضرت علي د کمزوره کولو په برخه کې له عيسوي هلو ځلو خوشاله شي او هېڅ مزاحمت به ونه کړي. خو امير معاويه، له علي بن ابي طالب سره په اختلاف سربېره د هغه په مقابل کې د دښمنۍ بيرغونه نه وو جګ کړي. نوموړی هېڅ کله د دې لپاره اماده نه و، چې د دواړو خپلمنځي اختلاف دې د اسلامي نړۍ لپاره د کوم زيان سبب وګرځي. هغه د دې خبرې په اورېدو قيصر (د قسطنطنيې پاچا) ته خط واستوه، چې مضمون يې دا و:

«اې رومي سپيه! که ته زموږ د خپلمنځي اختلاف له امله په موږ بريد کول غواړې، نو ته بايد پوه شې، چې د علي په مشرۍ کې به چې کوم لښکر ستا په مقابله کې دروځي، معاويه به د هغه لښکر يو معمولي عسکر وي.»

دا ليک د عيسوي واکمن لپاره له يوه پوځ نه هم ډېر سخت ثابت شو او په اسلامي سيمه باندې له يرغل نه يې لاس واخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اختلاف په وخت انصاف

که یو کس په مجلسونو او ناستو کې له «کامل اسلام» نه په کم څه باندې راضي نه وي، خو د اختلاف په وخت کې له انصاف نه اوړي (مائده: ۸) نو دا عجیبه پوښتنه پیدا کېږي، چې ایا د بشپړ اسلام د بیرغ جګولو مطلب دا دی، چې بنده دې په جزوي اسلام باندې هم ولاړ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## باب دی په بیان کې د زمزم اوبو!

په حدیث کې راغلي دي: «ماء زمزم لما شرب له» د زمزم اوبه چې د کوم هدف لپاره وڅښل شي، هغه به خامخا پوره کېږي.

په بل حدیث کې دي: «لایجمع ماء زمزم و نارجهنم فی جوف عبد» د زمزم اوبه او د دوزخ اور دواړه د یوه انسان په ګېډه کې نه شي یو ځای کېدی.

د دې حدیثونو له مخې فقهاوو د زمزم د څښلو لپاره اداب ټاکلي دي. په فتاوای عالمګیري کې راغلي دي، چې د زمزم اوبه باید په خپل لاس راواخلي او مخ په قبله شه په ډک نس وڅښل شي. د څښاک په وخت کې باید په هره ساه بانديې بیت اللّه ته وګوري او پاتې اوبه په خپل مخ او ځان وموښي او که کېږي، نو یو څه دې په ځان هم توی کړي.

## ملي کردار

په دوهمه نړیواله جګړه کې چې د برتانوي پوځ په وړاندې دا هدف پروت و، چې په ډنکرک کې بند پاتې پنځه سوه زره پوځیان سمدستي راوباسي، نو دې وخت کې برتانوي وزیراعظم ویستنن چرچل ملت ته لنډه وغوږوله، چې هغه خلک چې کښتۍ او بخاري بېړۍ لري، هغوی دې سمدستي خانونه پلانی سیمې ته ورسوي. ټول قوم په دې اعلان داسې راټول شول، چې هېڅ داسې شخص پاتې نه شو، چې خپله کښتۍ یا بخاري بېړۍ دې یې ټاکلې سیمې ته نه وي رسولې.

## یو تاریخ

د بایبل د بیان له مخې د حضرت یوسف علیه السلام په بلنه چې کله د هغوی ټوله کورنۍ مصر ته کډه شوه، نو د کورنۍ د ټولو غړو شمېر ٦٧ تنه وو. (په دې شمېر کې هغه نجونې نه دي شمېرل شوې، چې د حضرت یعقوب علیه السلام کورنۍ ته راواده شوې وې.) د حضرت یوسف علیه السلام له وفات نه شاوخوا پنځه سوه کاله وروسته حضرت موسی علیه السلام تشریف راووړ. له هغه سره چې کله بني اسرائیل له مصر نه ووتل، نو شمېر یې سلګونه زرو ته رسېده. د بایبل د بیان له مخې له خروج نه وروسته په دوهم کال کې چې کله د سینا په دښته کې حضرت موسی سرشمېرنه وکړه، نو د هغې له مخې یوازې د جنګي نارینه وو شمېر ٦٠٣٥٥٠ وو. د دې معنا دا ده، چې ښځې، سړي، ماشومان او زاړه ټول به لږ تر لږه دوه میلیونه وو.

ښکاره ده، چې د ٦٧ کسانو یوه کورنۍ په پنځه سوه کاله کې مازې د توالد او تناسل له لارې دومره نه شي ډېرېدی. په شمېر کې د دې غیرمعمولي زیاتوالي سبب بې له شکه د بني اسرائیلو تبلیغ وو. د هغوی د تبلیغ اغېز وو، چې مصریانو خپل دین بدل کړ، او غالباً د هغوی تمدن هم د بني اسرائیلو په رنګ کې رنګېدلی وو. په بایبل کې دې نویو مسلمانانو ته د «رنګ‌برنګ ټولي» په څېر کلمې کارول شوې دي. بني اسرائیل چې کله له مصر نه وتل، نو د هغوی دغه دیني ورونه هم له هغوی سره وو.



# د نه تشدد وسله له تشدد نه ډېره زوروره ثابته شوه

په هندوستان کې د انګرېزانو خلاف د ازادۍ غورځنګ په ۱۸۵۷ کې پیل شو. تر لومړنیو ۵۰ کلونو پورې دا غورځنګ د تشدد په تګلارې باندې ولاړ و. په ۱۹۱۹ کې چې کله مهاتما ګاندي د هندوستان په سیاست کې پښه کېښوده، نو اعلان یې وکړ، چې دوی به د عدمِ تشدد په بنیاد د خپلواکۍ غورځنګ مخته وړي.

د انګرېز حاکمانو لپاره د ګاندي د نه تشدد وسله د «خپلواکۍ د مجاهدینو» د تشدد له وسلې نه هم ډېره ورانکاره ثابته شوه. انګرېزانو سره د دې لپاره خو جواز و، چې تشدد د تشدد له لارې وځپي. خو په دې نه پوهېدل، چې د عدمِ تشدد په اصل باندې له راپورته شوي توپان سره څنګه مبارزه وکړي. چې کله وضعیت دې حد ته ورسېده، نو یوه پخواني انګرېز منشي، د سکرټر دفتر ته پیغام واستاوه:

**«له تاسو هیله کوو، چې موږ ته لارښوونه وکړئ، چې یو زمری له تشدد پرته څنګه وژلی شو؟»**

د زیاتره خلکو لپاره سیاست په دې معنا دی، چې له دښمن سره یوه ناپایه جګړه په سر راواخلي. خو اصلي سیاست دا دی، چې د پټې خولې د تدبیر له لارې دښمن داسې بې وسلې کړای شي، چې بالکل د جنګېدو وړتیا له لاسه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا تمثيل دی، نه واقعيت



حديثونه ګواکې د رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم خبرې اترې دي. ځينې وختونه داسې کېږي، چې يوه خبره په يوه روايت کې په بشپړ کې شکل نه وي نقل شوې. له دې امله ابهام په کې پيدا شي او د خبرې اصلي مطلب نه واضح کېږي.

خو که د همدې خبرې نور روايتونه هم خپلې مخې ته ولرو، نو خبره ورسره واضح او د اصلي مدعا په پوهېدو کې هېڅ شک نه پاتې کېږي.

مثلاً يو مشـــهور روايــت دی: «عن ابي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم استوصوا بالنساء خيرا فان المرأة خلقت من ضِلع» (بخاري او مسلم) ژباړه: له ښځو سره د نېک چلند سپارښتنه ومنئ، ځکه ښــځه لــه پښتۍ نه پيدا کړای شوې ده.

په يوه بل روايت کې دا الفاظ راغلي دي: «اَنَهُنَّ خُلِقنَ مِن ضِلعٍ» (بخاري) ژباړه: ښځې له پښتۍ نه پيدا شوې دي.

د حديث له الفاظو نه په ظاهر کې داســې ښــکاري، چې ښځه اللّه تعالی له هغه کاږه هډوکي نه پيــدا کړې ده، چې پسلۍ بلل کېږي. خو دا غلطپوهاوی په دې روايت کې د الفاظو د کمښت له امله پيدا شــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. همدا روایت په یوه بل ځای کې په مفصل ډول راغلی دی او هلته دا اشکال نه پــاتې کېـږي: عن ابي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان المرأة كالضلع ان ذهبت تقيمها كسرتها و ان تركتها استمتعت بها على عوج (بخاري و مسلم)

ژباړه: نبي کريم صلی اللّه عليه وسـلم وفرمايـل، ښځه د پښتۍ په څېر ده. که يې د سـيخولو هڅـه وکړئ، نو ماته به يې کړئ. او که يې په خپـل حـال پرېږدئ، نو له خپل کوږوالي سره سره به ګټه ورنـه واخلئ.

نبي کريم صلی اللّه عليه وسلم د «پښتۍ» کلمـه د ښځينه فطرت د بيانولو لپاره د تمثيل پــه توګــه کارولې ده. خو په ځينو روايتونو کې د اختصــار لــه امله دا کلمه په حقيقي معنا اخيستل شوې او بــې ځايــه پوښـــتنو تــه يــې زمينــه برابــره کــړې.

## حقيقت پسندي

د احـد غـزوه (۶۵۲ز) د هجـرت پـه دريـم کـال پيښه شـوه. دا جګـړه د مـدينې پـه شـمال کـې د احد غره په لمنـه کـې وشـوه، لـه همـدې امله د احد غزوه ورته ويل کيږي.

په دې جګړه کې په پيل کـې د مسـلمانانو فتحه په برخه شـوه. خـو بيا د يوې تېروتنې لـه امله فتحـه پـه مـاتې بدلـه شـوه، تـر دې چې پخپلـه پيغمبـر عليـه السـلام هـم ټپي شـو. لـه جګـړې وروسته نبي کريم صلى الله عليه وسلم لـه خپلـو ملګرو سره په يوه ځـای کـې ناسـت و، چې ابـو سفيان نيږدې راغی او اواز يې وکړ:

«في القوم محمد» په تاسوکې محمد شته؟

نبي کـريم ص صـحابه کرامـو تـه وفرمايـل، چې ځواب مه ورکوئ. هغه بيا وپوښتل، آيا پـه تاسـو کــې ابــوبکر شــته؟ د دې پـه ځـواب کـې هـم د رسـول الله ملګـري غلـي وو. بيـا يـې پوښـتنه وکړه، چې آيا په تاسوکې عمر بن الخطاب شته؟ د دې هـم هـيڅ ځـواب ورنـه کـړل شـو. بيـا يې وويل: داسې ښکاري، چې ټول ووژل شوو. خـو دا ځل حضـرت عمـر رض خولـه پټـه ونـه شـوی نيـولی او ويـې ويـل: اې د خـدای دښـمنه! دوی تــول ژونــدي دي او تــه بــه رســوا کيــږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ملت مسئله باید لومړی د فرد په کچه کې حل شي



یو سړی په بایسکل روان و، ناڅاپه یې بریک کار پرېښوده. مسافر له بایسکل نه راکوز شو او نیږدې مستري ته ورغی، چې ترمیم یې کړي. مسافر په دې سوچ کې و، چې مستري به د بریک د خرابېدو په ځای کې خپل مهارت وکاروي او بریک به جوړ کړي. خو مستري څټک واخیست او د بایسکل بیخي د یوه بل ځای په ټکولو یې بنا وکړه. مسافر لا خپله حیرانتیا هم نه وه ښکاره کړې، چې مستري ورته وویل «بریک سم شو، وړلی یې شئ.» شېبه وروسته بایسکل په سرک تېزې منډې وهلې.

د ملت د اصلاح کولو چاره هم په همدې قیاس کولی شئ.

په مسلمانانو کې اتحاد نشته، د رغونې سیاست په کې نشته، په مخالفو ډلګیو وېشل شوي دي، د ربړو د هوارتیا لپاره د هغوی په منځ کې یوه ټولمنلې پالیسي نشته او داسې نور. د مسلمانانو دغه حالات چې د یوه خواخوږي بنده سترګو ته درېږي، نو هغه سمدستي د غورځنګونو او قانون‌سازي په ژبه کې غور او فکر ته مخه کوي او یوازې همدا ورته کار ښکاري، چې ټول مسلمانان راټول کړي او د یووالي قوانین او تړونونه تصویب کړي. او د اسلام په موضوع باندې جذباتي ویناوې وکړي. خو دغه راز سوچ په خپل بنیاد کې غلط دی. د دې مطلب دا دی، چې یوه ستونزه چې له کومه ځایه سرچینه اخلي، موږ غواړو، هغه ستونزه په هماغه ځای کې حل کړو، حال دا چې په ژوند کې اکثر داسې کېږي، چې مسئله په یوه ځای کې وي او د حل راز یې یو بل چېرته پټ وي. د مېوې لپاره چې څوک له جرړې نه خپل سفر پیل کړي، هماغه به د مېوې خوند وڅکي. خو هغه شخص چې له مېوې نه یې خپل سفر پیل کړی وي، نه به مېوه په لاس ورشي او نه جرړه.

د مسلمانانو د مسئلې د حل کولو لومړنی شرط دا دی، چې موږ خپل فکر بدل کړو. د شاتګ لپاره اماده واوسو. د مسئلې په جرړې باندې د پوهېدو هڅه وکړو. د ملت د یووالي پیل له دې ځایه نه شي کېدی، چې ټول مسلمانان د «یووالي کانفرانس» تر سرلیک لاندې راټول کړو. د دې کار پیل په نیږدې دایره کې په سنجیده او خاموش عمل سره کېږي. که څه هم ستونزه د ملت په سطحه کې پیدا شوې ده، خو حل به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرد په سطحه کې کېږي. بیا دا کېدونی دی، چې د ملت په سطحه کې د مسایلو د حل کولو امکانات پیدا شي.

زموږ د لارې تر ټولو لوی خنډ بیروني ځواک نه دی، بلکې خپله زموږ د رهبرانو کمزوري دا ده، چې هغوی یوازې د هغو کارونو لپاره په خوځښت راځي، چې په ځان کې «رسنیز ارزښت» لري او د هغوی د شخصیت د مطرح کېدو فرصتونه په کې وي. د دې کمزوري پایله دا ده، چې هېڅ رهبر د خاموشې رغونې او اصلاح کار ته زړه نه ښه کوي. زموږ رهبر خو پخپله د شهرت او عزت په اسمانونو کې وزرې رپوي او نورو ته نصیحت کوي، چې هغوی دې رغنیز کارونه وکړي. په دې ډول هېڅ کله کوم مؤثر کار نه شي کېدی. دغه راز ټولې ویناوې مازې د رهبرۍ نمایشونه دي نه د ملت اصلاح او رغونه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ایمان تر اویا ډېرې څانګې دي




یو حدیث دی:

«عن ابي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الإيمان بضع وسبعون أو بضع وستون شعبة، فأفضلها قول لا إله إلا الله، وأدناها إماطة الأذى عن الطريق، والحياء شعبة من الإيمان.» (رواه السته وغيرهم بالفاظ مختلفة

ژباړه: نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمایل: د ایمان تر اویا ډېرې څانګې دي. تر ټولو غوره يې لا اله الا الله ويل دي او تر ټولو معمولي يې له لارې نه د ضررې شي لرې کول دي. او حياء هم د ایمان یوه برخه ده.

په دې حدیث کې د «اویا» عدد مازې د ډېروالي په مفهوم کې راغلی دی. همدا وجه ده، چې په ځینو روایتونو کې نورې شمېرې هم راغلې دي. مثلاً په یوه روایت کې ۷۷ عدد ښودل شوی دی. خو له خلکو سره عموما د دې ډېر شوق وي، چې حقایق هم په عددي ژبه کې بیان کړي، نو ځکه ګڼ اشخاص راپورته شوو او هڅه یې وکړه، چې دغه اویا څانګې ټولې یوه، یوه وشمېري. تر دې پورې چې د دې اویا څانګو د مشخصولو لپاره علماوو ډېر زیات بشپړ کتابونه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکلي دي. مثلاً **فوائد المنهاج** د عبدالله حلیمي، **شعب الایمان** د بیهقي، **شعب الایمان** د عبدالجلیل، **کتاب النصائح** د اسحاق بن قرطبي، **وصف الایمان** د ابو حاتم او داسې نور.

امام ابو حاتم بن حبّان فرمایي، چې ما یوه اوږده موده د دې حدیث په مفهوم کې فکر کاوه. خو چې کله به مې عبادتونه وشمېرل، نو هغه به تر اویاوو ډېر شول. د احادیثو کتابونه به مې چې راوسپړل او هغه شیان به مې وشمېرل چې په حدیثو کې د ایمان د څانګو په توګه یاد شوي دي، نو هغه به هم له دې عدد نه کم وو. قرآن کریم ته مې چې سر ورښکاره کړ او هغه شیان مې وشمېرل، چې په قرآن کریم کې یې د ایمان تر سرلیک یادونه شوې ده، هغه هم له اویاوو کم وختل.

بیا مې قرآن او حدیث دواړه سره یو ځای کړل. په دواړو کې چې کوم شیان د ایمان برخه ګڼل شوي دي، هغه مې وشمېرل او هغه چې په دواړو کې مشترک وو، هغه مې په یوه حساب کړل او میزان مې راوویست، نو له مکرراتو پرته د دواړو مجموعي حساب په حدیث کې له یاد شوي عدد سره سمون وخوړ.

ځینې خلک چې له ټولو هڅو سره سره ونه توانېدل، چې خپل لیکلړ تر ۷۰ یا ۷۷ پورې ورسوي، هغوی وویل، چې الله او رسول یې بهتر پوهېږي. قاضي عیاض وایي، چې د علماوو یوې ډلې د دې څانګو د تفصیلي بیانولو زیار ایستی دی او په خپل اجتهاد سره یې دا حکم کړی دی، چې همدا تفصیلات به ورنه مراد وي. حال دا چې په تعین سره په دې شمېرې باندې نه پوهېدل په ایمان کې هېڅ عیب نه پیدا کوي. خطابي لیکي، چې د دې عدد تفصیل الله او د هغه رسول ته معلوم دی او ټول یې په سپېڅلي شریعت کې خپل ځای ځایګی لري. د همدې لپاره په تعین سره یې د شمېر نه څرګندېدل هېڅ ضرر نه لري. نووي لیکي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې څانګو کې تر ټولو لوړه درجه توحید ته ورکړې ده او تر ټولو ټیټه یا ادنا درجه یې له لارې څخه د هغه شي ایسته کول ښودلي دي، چې یوه مسلمان ته د زیان رسېدو احتمال په کې وي. نورې ټولې څانګې د دې په منځ کې دي، چې د هغو ټولو تفصیل بیانول اړین نه دي. یوازې اجمالاً په هغو ایمان راوړل بس دي، هغسې چې په ټولو پرښتو ایمان راوړل لازم دي، خو د هغو په تفصیل او نومونو موږ نه پوهېږو.

یو حقیقت د کمیت په ژبه کې بیانول کومه ساده خبره نه ده، په دې سره د ټول دین تصور په بل مخ اوړي. مثلاً په احادیثو کې د ځینو کلماتو او اذکارو فضیلت بیان شوی دی، مثلاً یو حدیث دی:

**«عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم والذي نفسي بيده لو جئى بالسموات والارض ومن فيهن وما بينهنّ وما تحتهنّ فوُضِعنَ في كفة الميزانِ و وُضِعت شهادةُ ان لا اله الا الله في الكفة الاخرى لَرَجحَت بهن.»** (اخرجه الطبرانى)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل، قسم مې دې په هغه ذات وي، چې زما ساه یې په واک کې ده، که ټول اسمانونه او ځمکه راوړل شي او هغه خلک چې په کې دي او هغه څیزونه چې په منځ کې یې دي یا ځنې رالاندې دي، ټول د تلې په یوه خوا کې کېښودل شي او د لا اله الا الله شاهدي په بله خوا کې کېښودل شي، نو یقیناً د کلمې شاهدي به له ټولو درنه وخېژي.

هغه ذهن چې حقیقت د کمیت په ژبه کې بیانوي، هغه د دغه راز احادیثو په برخه کې تر ټولو دمخه دا کار کوي، چې «شاهدي ورکول» د لوستلو په معنا کې اخلي. حال دا چې دا همداسې دی، چې یو څوک د مینې په تعریف کې ووایي، چې محبت په خپله ژبه د دې جملې ویل دي چې «زه درسره مینه لرم.» نو اوس که یو پلار له خپل زوی سره مینه لري، نو هغه ته پکار ده چې په یوه ګوښه ځای کې کېني او سل زره ځلې د مینه، مینه، مینه ذکر وکړي.

په دوهم قدم کې تر دې هم لویه غلطي هغه مهال سر راهسکوي، چې د ذهن په پرده یې هغه روایتونه هم راڅرګند شي، چې په هغو کې په کثرت سره د ذکر او استغفار د کلمو تلقین شوی دی. مثلاً فرمایلي یې دي: **باقیات صالحات (مریم)** په کثرت سره وایئ. وېلي هغه څه دي، ویې فرمایل، **تکبیر**، **تهلیل**، **تسبیح**، **تحمید** او **لاحول ولا قوة**. همداسې یو بل روایت دی:

«**عن ابی بکر الصدیق عن رسول الله صلی الله علیه وسلم: علیکم بلا اله الا الله والاستغفار فاکثروا منها.**»

ژباړه: نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل، په تاسو لا اله الا الله او استغفار ویل لازم ګرځول شوي دي، نو ډېروالی په کې وکړئ.

ویل یا شهادت ورکول چې د «لوستلو» په معنا واخیستل شي، نو طبیعي پایله یې دا ګرځي، چې په ذکر کې کثرت په «کلماتو کې د کثرت» په معنا بدل شي او مطلب یې دا وګرځي، چې د ذکر مسنون او غیرمسنون کلمات باید زده شي او له تسپو اړولو سره وویل شي. بیا د همدې فن داسې مشایخ راپیدا شي، چې د ذکر شمېر له زرګونو نه تر میلیونونو پورې ورسېږي.

په **جامع الاصول** کې یې لیکلي دي، چې د الله کلمې د ذکر حد اقل اندازه په ورځ کې پنځه زره ځله ده. او د ډېر یې هېڅ حد نشته. د صوفیانو لپاره یې حد اقل شمېره په ورځ کې پنځه ویشت زره ده. د لا اله الا الله د شمېر په اړه راغلي دي، چې حد اقل باید په ورځ کې پنځه زره ځله وویل شي. شاه ولي الله په **قول جمیل** کې د خپل پلار له خولې ویلي دي، چې ما به د سلوک په ابتدایي مراحلو کې په ساه کې لا اله الا الله دوه سوه ځله ویله. د صوفیاوو په نزد یوه اصطلاح دود شوې ده، چې ساه تېربدنه ورته ویل کېږي. یانې دا تمرین باید وشي، چې هېڅ ساه د الله له ذکر نه پرته تېره نه شي. په سلګونه زره خلکو د ریاضت له لارې په منظم ډول دا تمرین ترسره کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صوفیان د ذکر په نوم د کلماتو په کثرت باندې ډېر زیات ټینګار کوي. عقیده دا ده، چې په دې سره په زړه کې د وسوسو لپاره ځای نه پاتې کېږي. خو دلته سوال دا و، چې د کلماتو په ویلو او ضربانونو سره که زړه اصلاح کېدلی، نو صحابوو رض د خپلې اصلاح لپاره دا طریقه ولې ونه کاروله؟ د دې ساده ځواب دا ورکول شوی چې «صحابه کرام د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د صحبت له برکته د زړه د قوت له مخې په اعلی درجه کې و، نو هغوی اړتیا نه لرله، چې د کلماتو ذکر یې کړی وای. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له زمانې څخه چې څومره واټن زیاتېده، هماغومره د زړه تقویه کوونکې مادې ته هم اړتیا ډېرېدله. (۳۷)

ذکر چې د کلماتو له تکرار سره هممعنا وانګېرل شو، نو د بزرګی عجیبې غوندې طریقې ورسره راپیدا شوې. سِرّي سقطي لیکلي دي، چې ما حضرت جرجاني ولیده، چې اوربشې یې خولې ته اچولې. ما ورنه وپوښتل، چې همدې وچو اوربشو ته مو بنا کړې ده؟ ویې ویل، چې ما د ډوډۍ ژوولو او خوړلو حساب چې وکړ، نو په ژوولو کې یې دومره وخت لګېږي، چې په هغه وخت کې بنده اویا ځله سبحان الله ویلی شي. همدا ده، چې له څلوېښتو کلونو نه مې د ډوډۍ خوراک پرې ایښی دی. او په همدې اوربشو باندې ګوزاره کوم. (۲۴)

د دې ذهنیت پایله دا شوه، چې عمل او د هغې پایله دواړه کمیتي او عددي شیان وګرځېدل. چې ګناهونه هم د شمېر شی شو او ذکر او استغفار هم د شمېر شی شو، نو دا ممکن شول، چې یو عدد په بل عدد سره ډېر په اسانۍ سره له منځه یووړل شي. یو بزرګ لیکي:

«نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي، چې دوه ځانګړنې داسې دي، چې که یو مسلمان ورباندې ټینګ ودرېده، نو جنت ته ننووت او هغه دواړه ډېر معمولي کارونه دي. خو په هغو باندې عمل کوونکي ډېر کم دي. یو دا چې سبحان الله، الحمدلله، الله اکبر له هر لمانځه وروسته لس لس ځله ولوستل شي، نو په ورځ کې به(له پنځو لمنځونو وروسته) ټولټال یو نیم سل ځله شي او دا چې هر یو یې لس لس ځله ویل کېږي، نو په حساب کې به یې پنځلس نېکۍ شمېرل کېږي. او دوهم دا دی، چې له خوب نه مخکې ۳۴ ځله الله اکبر، ۳۳ ځله الحمدلله، ۳۳ ځله سبحان الله ولوستل شي، چې ټولې سل کلمې کېږي او چې ثواب یې لس چنده حساب شي، نو ټولې زر نېکۍ شوې. اوس دغه زر نېکۍ او په ټوله ورځ کې له لمنځونو وروسته نېکۍ ټولټال دوه زره پنځه سوه نېکۍ کېږي. نو د اعمالو د تللو په وخت کې به په ورځ کې دوه نیم زره بدۍ د چا وي، چې په دې نېکیو دې غالبې شي.» (۱۳۳) په یوه حدیث کې نبوي ارشاد دی، چې له تاسو نه دې هېڅ څوک دا کار نه پرېږدي، چې په ورځ کې زر نېکۍ وکړي. دی دې سبحان الله و بحمده سل ځله ووایي. او (چې په لس چنده حساب شي)، دا به ټولې زر نېکۍ شي. نو ان شاء الله د هرې ورځې خو به دومره ګناهونه وي هم نه. او له دې تسپو نه اخوا چې هر څومره نېک کارونه وي، د هغو ثواب به جلا ګڼه وکړي.» (۱۳۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د مغفرت معامله په دې ډول د ساده حساب معامله وای، نو بیا به د صحابوو دا حال نه وو، چې د اخرت له وېرې به ناکراري اخیستي وو او ویل به یې چې کاش یو خلی وای، کاش یوه ونه وای او له بېخه ایستل شوی وای.

«**من قال لا اله الله مخلصا دخل الجنة**» دغه ډول روایتونه چې عموما په څه ډول تشریح کېږي، له هغه نه ډېر سخت غلطپوهاوی پیدا کېږي. خلک په اخلاص سره د لا اله ویل په دې معنا اخلي، چې بنده دې یو څو شېبې په یوه گوښه کې کېني او په ښه احترام او قرأت سره دې دغه الفاظ تکرار کړي. د اخلاص دا معنا نه ده. اخلاص په زړه کې د انقلاب د پیدا کېدو نوم دی او د تقدس او احترام ظاهري ادابو ته په پام سره د ځینو کلماتو تکرارولو ته نه ویل کېږي.

په عربي کې ذکر د یادولو په معنا دی. د الله تعالی له ذکر نه مراد دا دی، چې د بنده زړه د الله له وېرې او د هغه له مینې داسې سرشاره شي، چې هر وخت هماغه ذات د زړه په پرده نقش وي، کټ مټ هماغسې لکه یو انسان چې د خپل تر ټولو گران ملگري لپاره ناکراره وي. د کایناتو په هر شي کې باید بنده ته د خدای جلوې ښکاره شي او په دې ډول یې بیا بیا ځلې له خولې نه د شکر کلمات ووځي. اخرت ده ته یو ستر حقیقت په نظر ورشي، چې د ټول ژوند سکون ورنه اخلي او په ډېره نارامي یې له خولې نه د استغفار دعاوې وځي.

ذکر نه د کلماتو تکرار دی او نه تسپې اړول دي. ذکر هغه وروستۍ پېښه ده، چې په ټول انساني ژوند د اغېز وزرې غوړوي. په یوه حدیث کې راغلي دي، چې کله بنده تکبیر (الله اکبر) وایي، نو د هغه نور له ځمکې نه تر اسمانه پورې په ټولو شیانو خپور شي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ځل په خطبه کې وفرمایل، چې یو شخص چې **لا اله الا الله** داسې ووایي، چې گډوډ نه شي، نو د ده لپاره جنت واجب وگرځي. علي بن ابي طالب وپوښتل، چې له دې گډوډ نه څه مراد دی؟ ویې فرمایل: د دنیا مینه او په هغې پسې منډې وهل. یو ځل نبي کریم ص وفرمایل چې څوک **لا اله الا الله** په اخلاص سره ووایي، نو جنت ته به داخل شي. ویې پوښتل، د **لا اله الا الله** اخلاص څه دی. ویې فرمایل: چې بنده له حرامو شیانو څخه راوگرځوي.

«**عن معاذ بن جبل قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یموت عبد یشهد ان لا اله الا الله و اني رسول الله یرجع ذلک الی قلبٍ مؤمنٍ الا دخل الجنة (وعن عمران بلفظ) من علم ان الله ربه و اني نبیه موقنا من قلبه حرمه الله علی النار.**»

ژباړه: نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل، یو څوک چې په دې حال کې ومري، چې دا شاهدي یې ورکړې وي، چې له الله پرته معبود نشته، او زه د الله رسول یم. او دا خبره یې له زړه وتلې وي، نو هغه به خامخا جنت ته داخل شي. (په بل روایت کې دي) څوک چې په دې پوه شو، چې الله یې رب دی او زه د خدای رسول یم، او زړه یې په دې خبرې یقین کړی وي، نو الله تعالی په هغه باندې د جهنم اور حرام گرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

شیخ محمد مهدي (مړ ۱۸۱۵ز) د مصر په یوه عیسوي کورنۍ کې دنیا ته راغلی، بیا مسلمان شو. په الازهر پوهنتون کې یې کې زدکړې وکړې. او وروسته د شیخ الازهر په منصب باندې وګمارل شو.

احمد فارس شریاق (۱۸۸۷- ۱۹۰۴) د لبنان په مارونی عیسوي کورنۍ کې وزیږیده. له زدکړو او مطالعې وروسته یې له ادبي پلوه ډیر زیات شهرت پیدا کړ. د لندن تورات ټولنې نوموړی د تورات د ژباړې لپاره وغوښته. دا راز ګڼې نورې علمي او ادبي مرتبې یې هم ترلاسه کړې. په پای کې تونس ته ورسیده او اسلام یې راوړ او په ځان یې احمد نوم کیښود.

په عربي نړۍ کې دغه راز بې شمیره عیسویان دي، چې د مسلمانانو له تبلیغي هڅو پرته یې اسلام ته غاړه ایښې ده. که عرب مسلمانان په سیاستونو کې نه وای ښکیل شوي او د تبلیغ او دعوت کار یې کولی، نو یقیني ده، چې د هغې ځمکې به له سره وجود ختم شوی و، چې د فلسطین او لبنان غوندې مسایل په کې پیدا کیږي.

***

**د فرد یا ډلې د کامیابۍ راز په څه کې دی؟ په یوه ټکي کې دا دی چې «بنده په خورا احساساتي شیبو کې خورا عقلاني پریکړې وکولی شي.» همدې ته صبر ویل کیږي. ژوند یو دوامدار امتحان دی او بیا بیا ځلې داسې شیبې راځي، چې په بنده احساسات غالبیږي او په اغیزمن شوي ذهن یو ګام پورته کوي. په دغه راز شیبو کې خپل عقل او حواس په واک کې لرل او ځان له پیښو نه جدا نیول او پریکړه کول، د قرآن کریم په ژبه کې صبر دی او همدا د بریا یوازینی یقیني تضمین دی. ولکم النصر ما صبرتم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعصب سرې تر کومه وړي

د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې کله مدینې ته هجرت وکړ، نو هلته د مسلمانانو په خوا کې ګڼې یهودي قبیلې هم ابادې وې. نبي کریم ص دې قبیلو سره معاهده وکړه. او په دې معاهدو کې به یو شرط دا هم و، چې هغوی به د مسلمانانو په خلاف د چا ملګرتیا نه کوي. خو هغوی سرغړونه وکړه او په غدر یې لاس پورې کړ. همدا ده، چې د حدیبیې له سولې وروسته بنو نظیر له مدینې څخه وشړل شوه.

د خندق په غزوه کې بنو قریظه هم همداسې غدر وکړ. قریش چې کله بېرته ستانه شول، نو مسلمانانو بنو قریظه محاصره کړه چې په خپل کلاوزمه کور کې یې ځان بندي کړی وو. محاصرې پنځه ویشت ورځې دوام وکړ. خو چې بنوقریظه ولیدل، چې دوی سره بله هیڅ لاره نه ده پاتې، نو هغوی په درېمګرې باندې د فیصلې کولو خبره وکړه. دې وخت کې دوی له اوس قبیلې سره په تړون کې و. دوی پخپله دا شرط وړاندې کړ، چې د اوس قبیلې سردار سعد بن معاذ دې (چې مسلمان شوی و) درېمګړی وټاکل شي. هغه چې هره پرېکړه وکړه، موږ یې منو. سعد بن معاذ د تورات له مخې پرېکړه وکړه، چې د بنو قریظه ټول سړي دې ووژل شي او ښځې دې یې وینځې شي.

په یهودو کې یو کس زبیر بن باطاقرضي و. هغه د مدینې په یوه مسلمان ثابت بن قیس د بعاث په جګړه کې احسان کړی و. د مدینې د عربو او یهودو په دې جګړه کې ثابت بن قیس نیول شوی و. زبیر بن باطا هغه خوشې کړی و. ثابت بن قیس وغوښتل، چې د یهودي سردار د هغه احسان بدله ورکړي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او د خپل زړه خبره یې ورته وکړه. نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ده په خبره د زبیر بن باطا د پرېښودو امر وکړ. خو ثابت بن قیس چې دا زېرۍ یهودي ته ورساوه، نو هغه وویل: زما غونډې زوړ سړی، چې خپل آل او عیال او مال ورسره نه وي، نو هغه به په داسې ژوند څه وکړي. ثابت بن قیس بیا رسول الله ته خواست وکړ، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم اجازه ورکړه، چې خپله کورنۍ، بچیان او مال هم ورسره ورلی شي. خو یهودي په دې هم مطمئن نه و. اوس یې وپوښتل، چې د بنو قریظه د نورو سردارانو، مثلاً کعب بن اسد، حی ابن اخطب، عزّال بن سموئل انجام څه شو. ویې ویل، چې هغوی ټول ووژل شوو. له دې وروسته چې بیا څه وشول، هغه په تاریخ کې په دې ټکو کې راغلي دي:

«**فلما علم انهم قتلوا قال: اني أسألک یا ثابت بیدی عندک الا الحقتنی بالقوم. فوالله ما في العیش بعد هولاء من خیر، فما انا بصابر لله فتله ولو ناضح حتی القی الاحبة فضربت عنقه بمشیئته.**» (**محمد حسین هیکل، حیات محمد، قاهره، ۱۹۶۵، صفحه ۳۴۰**)

ژباړه: چې کله دی پوه شو، چې ټول یهودي سرداران وژل شوي دي، نو هغه وویل: اې ثابته! ما هم خپله خلکو ته ور ورسوه. په خدای قسم، له هغوی وروسته په ژوند کې هیڅ خیر پاتې نه دی. په ما کې کوهي ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سطل د غورځولو د مودې په اندازه هم صبر نشته، تر دې چې خپلو ملګرو سره يو ځای شم. نو د هغه له خوښې سره سم غاړه ورنه ووهل شوه.

په دې غزوه کې چې کومې ښځې وينځې کړای شوې وې، هغو کې يوه د ريحانه په نوم ښځه د رسول الله په برخه وختله. نبي کريم ص هغې ته وويل، چې اسلام راوړه، زه به درسره واده وکړم، او په عزت کې له ماسره ژوند وکړه. خو هغه د يهوديت پرېښودو ته اماده نه شوه.

او د نبي کريم ص د وينځې په حيث يې ژوند وکړ او په همدې حال کې مړه شوه.

---

# چې سياست په نشه بدل شي




که د پنيرو شرکت د پنيرو په کوټي وليکي: «دا پنير صحت ته زيان رسوي.» نو هيڅ څوک به هم د دې شرکت پنير ونه پېري. دا ډول شرکت به په څو ورځو کې ډېوالي شي. خو د نويو قوانينو له مخې د سګرټو په هر کوټي باندې چې د سګرټو شرکتونه يې بازار ته وړاندې کوي، په ښکاره حروفو کې ليکلي وي:

CIGARETTE SMOKING IS INJURIOUS TO HEALTH

(سګرټ څکول روغتيا ته زيان لري.) خو دې سره سره د سګرټو په فروشاتو کې هېڅ فرق نه راځي او د سګرټ څکوونکو شمېر په دوامداره توګه د زياتېدو په حال کې دی. د سګرټ سازي کاروبار نن ورځ په دنيا کې تر ټولو ډېر کټور کاروبار ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې وجه څه ده؟ وجه يې دا ده، چې پنير ګټور خواړه دي. او بنده يې د صحت او انرژۍ په خاطر خوري. نو له همدې امله چې کله په پنيرو کې همدغه ټکی شکمن شي، نو بنده سمدستي ورنه لاس په سر کېږي. خو د سګرټو معامله يو څه جدا ده. سګرټو سره د غذايي ګټې کوم تصور نه دی تړلی. سګرټ يوازې د نشې لپاره څکول کېږي او د نشې ګټه سګرټ هغه وخت هم په بشپړه توګه رسوي، چې له روغتيايي اړخه د هغو ضرر ثابت شوی هم وي. چې کله اصل مقصد حاصلېږي، نو بيا يو کس ولې لاس ورنه واخلي. دغه خبره يوازې د



خوراک او څښاک تر شيانو پورې محدوده نه ده بلکې کله نا کله دين او مذهب ته هم لاره باسي. مثلاً که په ځينو خلکو د «سياست» خارښت ولګېږي، نو بيا چې په هر څومره دلايلو هم د سياست عبثوالی ورته ثابت کړئ، خلک به بيا هم په سياست پورې نښتي وي. او په هېڅ ډول به هم لاره ورنه بېله نه کړي. په دې چې د دلايلو هېڅ اندازه هم له سياست څخه د نشې کيفيت نه شي اخيستی. بلکې واقعيت خو دا دی، چې سياست له ټولو نشه يي توکو څخه ډېر نشه راوړونکی شی دی. د سګرټو او بنګو نشه الوتلی شي. خو د سياست نشه هېڅ کله د سرې له سره نه الوځي. تاسو د دلايلو انبارونه ورته راوړئ، تجربې دې له عملي پلوه سياست بې ګټې ثابت کړي، خو هغه خلک چې د سياست په نشه روږدي شوي وي، د تخيلاتو په دنيا کې به هماغسې د خپل سياسي رومان قصيدې غږوي. له مرينې پرته بل هېڅ داسې ځواک نشته، چې د هغوی او سياست ترمنځ دې د بېلتون کرښه وکاږلی شي، او که تصادفاً په سياست کې کوم چا د ملي پرمختګ راز پيدا کړی و او يا کوم داسې قرآني قاموس په لاس ورغلی و، چې دين يې په سياست معنا کړی وي، نو دا ډول خلک له خپلو سياسي بوختياوو څخه بېلول دومره مشکل کار دی، چې په انساني ژبه کې به شايد تر اوسه پورې هغه الفاظ هېڅ پيدا شوي نه وي، چې د دې کار سختۍ دې بيان کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چې خلک ړانده او کاڼه شي



په قرآن کریم کې ارشاد دی: «او څومره نښانې دي په اسمانو او ځمکه کې چې دوی وربانديې تېرېږي خو (تل) د هغو نه څنګ کوونکي دي.» (یوسف: ۱۰۵) هغه خبره چې موږ یې په انساني ژبه کې کول غواړو، هماغه خبره په کاینات کې په ډېر بهتر اسلوب کې د خدای په ژبه کې ګویا ده. نو چې د خدایي اواز د اورېدو لپاره د خلکو غوږونه کاڼه وي، نو په هغوی به انساني اواز څه اغېز وښندي.

د کاینات له وسعتونو او عظمتونو نه ډېر څوک د دې خبرې درس راکولی شي، چې انسان یو خورا حقیر وجود دی. بې له عاجزي نه د هغه لپاره هېڅ رویه هم درسته نه ده. خو په دې سربېره هم انسان لویي او غرور کوي. (اسراء: ۳۷)

د غرونو له سنګینو سینو څخه د بهېدونکو اوبو له چینو نه ډېر څوک دا حقیقت بیانولی شي، چې تاسو د نورو لپاره د خړوبتیا او ژوند سیند وګرځئ. خو انسان د نورو پر وړاندې تر کاڼي نه هم ډېر سخت دربږي. (بقره: ۷۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځمکې په سینه باندې له ولاړو ګورو ونو څخه په ډېر بهتر اسلوب کې ښوک د دې حقیقت اعلان کولی شي، چې خپل اجتماعي ژوند په مضبوطو بنیادونو ودروئ تر څو هېڅ ښوک یې ونه شي نړولی. خو په دې سربېره هم خلک د لنډمهالو بوټیو او بوسو په څېر خپلې ودانۍ دروي او بیا ګیله کوي، چې پلانکي زما ونه له بېخه ونړوله. (ابراهیم: ٢٦)

که خلک اوربدونکي غوږونه او لیدونکي سترګې ولري، نو کاینات هره شیبه د حق او صداقت اعلانونه کوي. خو چې کله د خدایي اعلان د اورېدو لپاره د خلکو غوږونه کاڼه وي او د خدایي نښانو د لیدو لپاره د خلکو سترګې ړندې وي، نو هېڅ انساني اواز هغوی ته ګټه نه شي رسولی. له دې وروسته خو د خلکو د ویښېدو لپاره یوازې د قیامت چیغې ته باید سترګې په لاره اوسو.

## بیګ بینګ




په معاصره زمانه کې د ستورپوهنې په نظریاتو کې یوه نظریه هغه ده، چې بیګ بینګ یې بولي. اټکل دا دی، چې شاوخوا پنځلس بیلیونه کاله دمخه کاینات د نښتي واحدې مادې په حالت کې و. دغه ابتدایي ماده چې ځینو ساینسپوهانو د «سوپر اټوم» نوم ورکړی دی، د هغې ټولې برخې په ډېر شدت سره دننه خواته په کش شوي حالت کې وې. بیا په همدې ابتدایي مادي غوټه کې لوی انفجار پېښ شو او په پایله کې د یادې مادې اجزاوې خلورو خواوو ته په خوربدو شوې او بلاخره اوسنی کاینات، له خپلو ټولو ستورو او سیارو سره یو ځای وپنځېده.

په دې وروستیو کې د کلیفورنیا دوو ساینسپوهانو ځینو نویو حقایقو ته لاسرسی موندہ. دې څېړنو وښودله، چې ستر انفجار (بیګ بینګ) تر هغه ډېر ارام او منظم (Orderly Event) و، چې فکر یې کېږي. د امریکا د ناسا اداري په یوه اعلامیه کې ډاکټر ریکارډ میلر او ډاکټر جارج سموټ (د کلیفورنیا پوهنتون) وویل، چې هغوی پخپله څېړنه کې موندله، چې کاینات خپلو څلورو ګوټونو ته بالکل په یوه سرعت سره خوربږي.

زیاتره ساینسپوهان په دې باور وو، چې کاینات له یوه ستر انفجار نه پیل شوی دی. ځینې په دې اند وو، چې یو ګډوډ حالت و چې په ماده کې د ګردابي کیفیت د پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدو سبب شو. خو تازه شواهد ښيي، چې بيګ بينګ په رواجي معنا کې کوم «انفجار» نه و، بلکې د انرژي د اخراجولو يوه ارامه پېښه وه، چې په اصلي حقيقت يې موږ تر اوسه پورې هم نه يو پوه شوي. بيګ بينګ تر هغه ډېره پېچلې پېښه وه، چې تر اوسه پورې يې ګمان کېده.

د دواړو ساينسپوهانو د نظرياتو بنياد هغه وړانګې دي، چې د ناسا په (U-2) الوتکه کې نصب شويو نازکو آلاتو معلومې کړې دي. دا ځانګړې الوتکه په ۲۰ زره ميتره ارتفاع کې الوځول شوې وه. فکر دا دی، چې دا وړانګې د ابتدايي انفجار په وخت کې خپرې شوې وې. د دې وړانګو په اړه دوی لومړی ځل په ۱۹٦۵ کې پوه شوي وو. دې الوتکې وښودله، چې دغه وړانګې د کايناتو په هره برخه کې خورې دي. په دې وړانګو کې دومره نظم او ترتيب دی، چې د هغو په مټ د اسماني اجرامو سرعت په ډېر صحت سره معلومېدی شي.

خو کله چې دغه اندازه ګيري وشوه، په هغه کې د نظم او ترتيب په برخه کې يوه استثنا مخې ته راغله. ځمکه، زموږ شمسي نظام او هغه کهکشان چې زموږ شمسي نظام په کې دی، له نورو اسماني اجرامو څخه په ساعت کې د يو ميليون ميله په سرعت سره د جلا کېدو په حال کې دي. ډاکټر سموټ وويل، چې دغه حالت زموږ له تائيد شويو نظرياتو سره يو څه په ټکر کې دی. ځکه که زموږ کهکشان په کايناتو کې له نورې پراختيا سره همغږی وی، نو بايد د اوسني سرعت په نسبت د ٦/۱ په سرعت سره حرکت وکړي.» زموږ کهکشان ولې په دغسې استثنايي سرعت حرکت کوي، د هغه په علت موږ نه پوهېږو. او د دې بنيادي سوال ځواب هم لا تر اوسه پورې معلوم نه دی، چې د کايناتو په ماده کې ابتدايي حرکت يا انفجار ولې راپيل شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوه ټوکه

ډاکټر پرمود کمار د نسواني مرضونو (ګايناکولوژي) په برخه کې تخصص وکړ او بيا يې په لندن کې خپله معاينه خانه پرانيسته. يوه ورځ يوه انګرېزه ښځه په ډېره بيړه د نومووړي معاينه خانې ته ننوتله او ويې ويل: «ډاکټر صاحب، زه نه پوهېږم، چې خپله خبره په کومو ټکو کې درته وکړم.» بيا يې څو شېبې ساه ونيوله او خبره يې وغځوله چې:

I THINK I HAVE A TOUCH OF THE SUN.

ډاکټر کمار دا جمله په دې معنا واخيسته، چې دغه ناروغه ښځه غالبا ازادې فضا ته وتلې ده او هلته سخت لمر وهلې ده، نو ناروغې ته يې د مشورې په ډول وويل «د پرېشانۍ کومه خبره نه ده، ساړه شربتونه وڅښئ، په تېره د ليمو يخ شربت وڅښئ، ډېر ژر به ښه شئ. او که په پوستکي باندې يې کوم اغېز محسوسوئ، نو د زيتونو تېل يا کريم ورباندې ولګوئ.»

ښځه په خپلې پرېشانۍ څېرې باندې د اضافي حيرانتيا له ژورو اغېزو سره له معاينه خانې ووتله او ډاکټر کمار دې فکر په مخه کړ، چې «دا انګرېزې ښځې اخر د دومره ورو، ورو خبرو لپاره ډاکټرانو ته ولې ورځي؟»

ماښام ته نوموړی خپل کور ته راغی. په کور کې يې مېرمنې آغلې ګلوريا ډېر په مينه هرکلی وکړ. چې کله دواړه خوړو ته کېناستل، نو انګرېزې مېرمنې يې هم هماغه جمله وويله، چې ده په خپله معاينه خانه کې له هغې ناروغې نه اورېدلې وه:

DARLING, I THINK I HAVE A TOUCH OF THE SUN.

ډاکټر کمار په حيرانه خوله وويل «نه، نه، په دې رقم خو به زه لېونی شم. په لندن کې هر وخت ښځې بس همدا د لمر خبرې کوي.» خو دواړو چې تر ډېره خبرې وکړې، نو ګلوريا داسې محسوسه کړه، چې د ده هندوستانی مېړه په اصلي خبره باندې نه دی پوه شوی، نو په خندا يې ورته وويل چې «زما مطلب دا دی، چې موږ به ډېر ژر درې تنه شو.»

په انګرېزي ژبه کې يوه ښځه د خپلې اميندوارۍ خبره په لسګونو طريقو کولی شي. پاسنۍ جمله هم همداسې استعاروي اسلوب دی. او لفظي ژباړه يې دا ده چې «د لمر لمس رالګېدلی دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ما خو ګېنلي وه

- **ما خو ګېنلي وه،** چې په دليل کې وزن دی. خو معلومه شوه، چې ځواک په خپل ځان کې له دليل نه هم ډېر وزن لري.
- **ما خو ګېنلي وه،** چې انسان په خپل استعداد او صلاحيت منل کېږي. خو معلومه شوه، چې د استعداد تر ټولو لوی سند فرصتپرستي ده.
- **ما خو ګېنلي وه،** چې دندې او منصبونه د کار او خدمت کولو فرصتونه دي. خو معلومه شوه، چې دا خو مازې د ویاړ او پرستیژ لپاره ترلاسه کېږي.
- **ما خو ګېنلي وه،** چې خلک چې څه په خوله وايي، هماغه يې په زړه کې هم وي. خو معلومه شوه، چې دا دواړه يو بل سره هېڅ تعلق نه مومي.
- **ما خو ګېنلي وه،** چې خلک د اهدافو علمبرداران وي. خو معلومه شوه، چې د خپل شخصيت له مطرح کولو پرته خلک له بل هېڅ شي سره هم دلچسپي نه لري.
- **ما خو ګېنلي وه،** چې هغه خلک چې د خدای خبرې کوي، هغوی له خدای نه ډار هم لري. خو معلومه شوه، چې خدای د هغوی لپاره يې له يوه سوداګريز اعلان څخه بل هېڅ هم نه دی.
- **ما خو ګېنلي وه،** چې خلک اصلاح او تغيير غواړي. خو معلومه شوه، چې هر کس ته خپلې ګټې ګرانې دي، حتی که د نورو د بربادي په بيه هم وي.
- **ما خو ګېنلي وه،** چې خلک د انسانيت د خدمت لپاره سرګرمه دي. خو معلومه شوه، چې ټول فعاليتونه د خپل مقام او مفاد لپاره ترسره کېږي.
- **ما خو ګېنلي وه،** چې انسان د بل انسان خيرخواه دی. خو معلومه شوه، چې هر يو د بل په استحصال پسې راخيستي ده.
- **ما خو ګېنلي وه،** چې د جنت لاره پراخه او د جهنم لاره تنګه ده. خو معلومه شوه، چې تر ټولو پراخه لاره هغه ده، چې جهنم ته ورغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د انسان اټکلونه څومره غلط وي

ام عبداللّه بن ابي حثمه وايي، چې حبشې ته د هجرت لپاره مې د سفر چمتووالی نيوه، چې په دې وخت کې عمر بن خطاب (چې تر اوسه پورې يې اسلام نه و راوړی) رابنکاره شو. تر دې مهاله پورې عمر په مسلمانانو باندې په ظلم کولو کې ډېر سخت و. عمر وويل: انه للانطلاق يا ام عبدالله (اې ام عبدالله! د تلو ارادې دې؟) ام عبداللّه ورته ويل: په خدای قسم، هو، تاسې پر موږ ډېر مصيبتونه راوړئ. موږ به د خدای په ځمکه کې ووځو. تر دې چې اللّه تعالی زموږ لپاره يو ځای ځايگی پيدا کړي. عمر په ځواب کې ورته وويل: خدای دې مل شه (صحبکم الله) او په دې خبرې سره يې سترګې له اوښکو راډکې شوې. او بيا له هغه ځايه لاړ. کله چې د ام عبداللّه مېړه راغی، چې په کوم کار پسې وتلای و، نو هغې د عمر ټوله کيسه ورته وکړه او ويې ويل، چې ماته خو داسې معلومېږي، چې دا سړی به مسلمان شي. د هغې مېړه وويل: «لايسلم هذا حتی يسلم حمار الخطاب». د خطاب خر به مسلمان شي، خو دا سړی به مسلمان نه شي.

خو همدا عمر بن الخطاب يو څو ورځې وروسته مسلمان شو او د اسلام يو نوی يې تاريخ جوړ کړ. انسان زياتره وختونه په خپل اټکل کې تېر وځي. که څه هم هر سړی همدا فکر کوي، چې اټکل يې بالکل سم دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**زيد بن ثابت انصاري** په عربي سربېره په فارسي، رومي، قبطي، حبشي او سرياني ژبه هم پوهېده. او نبي کريم صلی اللّٰه عليه وسلم ته به چې په نورو ژبو کې کوم خطونه راتلل، د هغو ځوابونه به همده ورته وليکل.

**وهب بن منبه** په عربي سربېره په يوناني ژبه هم پوهېده. ده په يمن کې د خپلې استوګنې پرمهال د يهودو او عيسويانو تاريخ هم زده کړ او لومړنی کس دی، چې په اسلام کې يې د انبياوو داستانونه وليکل.

**د موسي بن ساء اسواری** په هکله جاحظ ليکلي دي، چې په عربي او فارسي دواړو ژبو يې په يوه اندازه لاس بر و. د ده په مجلس کې به ښي لوري ته عرب ناست وو او کيڼ لوري ته به ايرانيان ناست وو.

ده به د قرآن کريم يو آيت ولوسته او عربو ته به يې په عربي ژبه کې د هغه شرحه کوله او بيا به يې کيڼ لوري ته مخ واړاوه او ايرانيانو ته به په فارسي ژبه کې د آيت تفسير وکړ. او بنده به دا قضاوت نه شوی کولی، چې اوس دی په کومه ژبه باندې ډېر ښه غږېږي.

***

«اې ښاغلی نابينا صاحب، په احتياط قدم اخلئ. تاسې چې په کومه خوا روان ياستئ، په هغه لاره کې مخته کوهي دی.» دا جمله د ګرامر له رويه بالکل سمه ده او د ادب او اخلاقو په معيار هم پوره برابره ده. خو په ظاهر کې دا سمه فقره به هغه وخت بالکل بې معنا وي، چې ړوند کس د کوهي غاړې ته رسېدلی وي او دا انديښنه وي، چې که يو ګام هم بل واخلي، نو کوهي ته به وغورځي. په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازکه شپېه کې نورې ټولې خبرې حذفېږي او یوازې همدا چیغه پاتې کېږي چې:

«کوهي، کوهي»

د خدای د پیغام رسولو چاره هم څه دې ته ورته غوندې ده. په ظاهره د ژوند بې شمېره مسایل دي. خو هر انسان چې تر ټولو ډېر له کومې مسئلې سره لاس و ګرېوان دی، هغه مرګ دی. مرګ د انسان د ژوند هغه ټاکونکې شپېه ده، چې له بنده نه د عمل فرصت اخیستل کېږي او ناڅاپي یوه داسې دنیا ته رسېږي، چې هلته فقط دوه شیان دي: یا جنت دی یا دوزخ.

د مرګ د مسئلې نزاکت هغه وخت لا ډېر شي، چې کله بنده دې ته وګوري، چې د مرګ وخت هېڅ معلوم نه دی او په هر کس باندې هره شپېه راتللی شي. په داسې حالت کې د خبر رسوونکي لپاره تر ټولو لومړنۍ او تر ټولو لویه خبره چې خلکو ته یې باید وکړي، هغه دا ده، چې خلک د مرګ له خطر نه اګاه کړي.

***

**پای**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**